# مليت، ملت، ملي ستم او خراسان

ډاکتر رحمت ربی ځيرکيار

[ د ډاکتر ځيرکيار له کتاب نه: د ناپوهۍ تياری، د پرمختګ ډيوی د افغاني کلتور په چوکاټ کې: له عبدالرحمن خان نه تر اشرف غني احمدزي ۱۸۸۰تر ۲۰۱۵. په کابل کې له سروش کتاب فروشي نه لاسته راوړل کيدلی شي او په جلال آباد کې له مومند کتابتون نه].

په ۱۹۱۷ کې د لينن په مشرۍ په روسيه کې بلشويک/کمونيستي نظام د پخوانی تزاري نظام ځای ونيو. کله چې بلشويک/کميونيستي واکمني په مرکزي اسيا کې برلاسي شوه، ګڼ شمير(اووه نيم لکه= ۷۵۰۰۰۰) تاجکانو، ازبکانو، ترکمنانو، او کرغيزيانو افغانستان ته پناه ويوړه(وسيلي ميتروخين،کې جي بي په افغانستان کې. واشنګټن،ډي.سي.،۲۰۰۲.تجديد ۲۰۰۹، په انګريزي ژبه: ۱۷ مخ). ځما ځيرکيار په نري اټکل، د منځنۍ اسيا د اووه نيم لکه کډوالانو په منځ کې به لږ تر لږه پنځه سوه (۵۰۰) کمونستان هم ځای په ځای شوي وو چې په راتلونکی افغانستان کې کمونستان او مخبران وروزي او د شوروی روسيې/شوروي اتحاد په ګټه يې استعمال اواستخدام کړي؟

د«ستم ملي» تبليغ او د قوم په ځای په «مليت/نيشناليتي» ټينګار او اوس په پيژاند پانه کې د افغان د ټکي سره حساسيت د ذکر شوي ادعا سره اړخ لګوي.

دغو مفهومونو د پرچميانو د واکمنۍ په مهال او ورپسې د مسعود – رباني – پرچمي سرک الطوايفۍ په مهال زور وميند. ولولئ رحمت ربی زيرکيار، ملي ستم، مليت او خراسان. خپروونکې: د پښتني کلتور د ودې ټولنه، جرمني. چاپځی:ملت پريس، لاهور، ۱۳۸۰هجري لمريز= ۲۰۰۱ زييز، ۱۱۹+۶ مخونه

ما ځيرکيارته نن (۱۵ اپريل ۲۰۱۵= ۲۶حمل ، ۱۳۹۴) د کاناډا د انتاريو د ايالت له تورانتو ښار نه په ايميل کې يوه ليکنه راورسيدله: «تشت بدنامی پيروان رسول سياف توسط وکلای شورا از بام افتاد». په دغه ليکنه کې مې چې په «افغانستان آزاد – ازاد افغانستان» کې د ۲۰۱۵ د اپريل په ۱۴ خپره شوی ده، څلور ځلې د «مليتهای افغانستان» ټکی وليد. ما نږدې ۱۵-۱۶ کالونه وړاندې په کال ۲۰۰۰ کې په دې سرليک «مليت او ملت په اوسني شعور کې» يوه ليکنه خپره کړې وه. دلته يې ځيني برخې خپروم ، په لاندې ډول:

د کمونيزم سره د ترخې تجربې له امله افغانان عموما د خپلو هغو هيواد والو په ملي ژمنه شکمن شوي دي چې د «مليت» ټکي ته يې خوله ګوړې- ګوړې کيږي. له بل هر وخت نه ډير، نن افغانان د مليت د ټکي څيړني ته کلکه اړتيا لري. د پخواني کمونيستي ازبکستان يو کړکيښاند(مورخ) چې نيشانوف نوميږي « د اپريل تعميري انقلاب» د سرليک لاندې خپل کتاب خپور کړی و. په دغه کتاب کې راغلي دي: « د ظاهرشاه او داود په ظالمانه رژيمونو کې د پښتونستان نهضت د دې له پاره پيل شو چې د افغانستان د نورو مليتونو هويت او د دوی ارزښتناکې عنعنې له مينځه يوسي. د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون د نورو مليتونو هويت بيخي له

نظره غورځولی دی او د افغان اصطلاح يې د ټولو ولسونو لپاره استعمال کړې او يواځې په دې يې اکتفا کړې ده چې په افغانستان کې ټول اوسيدونکي قومونه افغان ملت دی.» د اقتباس لپاره ولولئ: خپلواکي، څلورم کال، لومړۍ ګڼه ۱۳۶۸ لمريز، اپريل-جون ۱۹۸۹، مخ ۱۵. په «ستم ملي » باندې د نيوکې لپاره او د ستم ملي د نظريې لپاره په ترتيب سره دوه ليکنې پام وړ دي. انتقادي ليکنه د غني ژوند ي په قلم خپره شوې ده: «ملي ستم او اسلامستان» ،( سباوون. لومړی کال، دريمه ګڼه، غويی ۱۳۷۳، اپريل ۱۹۹۴، مخونه: ۵-۸، ۱۷-۲۲ او -۲۸ ۲۵). د ۱۹۹۵ په دسمبر کې په ۳۴ مخونو کې يوه رساله په امريکا او جرمني کې تيت شوه چې سر ليک يې دی: «خراسان سرزمين آزادی و اتحاد ملی. نقدی بر نوشته آقای حداد». په دغه رساله کې د «نګارندګان اين مجموعه» ټکي کارول شوي دي. له دې امله ويلی شو چې دغه «مجموعه» به د يوه ټيم (نګارندګان) له خوا ليکل شوې وي او سرې ورته د د ستميانو د مجموعي تفکر مانيفيست هم ويلی شي. د دغي مجموعي د «نګارندګان» هويت په مستعارو نومونو هم نه دی ښودل شوی، او ښايي له دې امله يې قدرت الله حداد «شبنامهٔ مجهولين» ګڼې. لوستل يې د ملي شعور د خاوندانو لپاره ګټور دي. په دريم څپرکي کې مې په دغه ليکنه رڼا اچولې ده او د ستميانو شور او شر مې ول په ول راسپړلي دي

کله چې په افغانستان کې «طبقاتي» پرځنګ سوکه سوکه بې خونده شو، نو روسانو د خپلو ګټو لپاره خلقي – پرچمي او ستمي کړۍ مرتبطې کړې او ديته يې ولمسولې چې د افغانستان د ځپلو او ټوټه ټوټه کولو لپاره «مليتي» مبارزه وپېر سوي او د «طبقي» په ځای په «مليت» شخوند ووهي. افغان مليګران (نيشنليستان) له دې امله د مليت د ټکي شاته د «ستم ملی» افغان دښمنه هڅه ويني. يو څو اقتباسونه د معلوماتو په حيث وړاندې کوم

۱ - «مهم ټکی چې زموږ د هيواد په سياسي ادبياتو کې راګډ شوی دی د مليت د کلمې استعمال دی...په افغانستان کې هغه ډلې چې چپي تمايلات لري او يا د اقليتونو څخه نمايندګي کوي د دې کلمې په استعمال ډير وياړي او فشار پرې اچوي. دا کلمه چې په ملت کې د بل ملت د پيداکولو معنی ورکوي او بس، د پرچميانو، ځينو خلقيانو، شعله يانو، ستميانو او نورو چپو او متعصبو منطقوي ډلو له خوا استعماليده او استعماليږي.» - عبد القيوم مومند، «ملت، مليت او هزارستان»، سباوون، ليندۍ ۱۳۷۵=۲۲/۱۱/۱۹۹۶، مخونه۱۹-۲۰

۲- پوهاند محّمد نادر عمر په خپله يوه ليکنه(اصطلاح مليتها) کې داسې وايي: «افغانها ملت واحد ی را تشکيل ميدهند. کسانيکه تابعيت افغانستان را دارند، به هر قوميکه منسوب باشند، مليت شان افغان است و دارای حقوق مساوی هستند...در شناسنامهٔ هر کسيکه تابعيت افغانستان را دارد، برای شناخت مليت وی افغان نوشته شده است.» دعوت، پر له پسې ګڼه ۷۹-۸۰، زمری/وږی ۱۳۷۶= جولای/اګست ۱۹۹۷، مخ ۱

۳- د ائتلاف شمال د ګډوډۍ څخه يو کال وروسته په ۱۹۹۳ کې قدرت الله حداد کاږي: « پردو کتابونو څه کانې راباندې وکړې. کمونستانو ويل (مليتهای برادر) اوس برادر هم ورسره نه وايي (مليت ازبک،مليت هزاره، مليت تاجک) وايي. دوی که عقل او عزت درلودلای، نو

ازبک افغان، هزاره افغان، تاجک افغان به یې ویلای چې شریک ټکی مو افغان وای.» - د نجیب د حکومت نسکوریدل په کومه بیه؟ اګست/سپتمبر ۱۹۹۳، مخونه ۱۲۸-۱۲۹

۴- د ۱۹۹۲ په پای کې د مسعود- رباني وسله والو قواو د کابل ښار په افشار او چنداول برید وکړ او د هزاره ګانو په وینو یې ولمبول. سم د لاسه «اعلامیهٔ هزاره های مقیم امریکا شمالي» خپره شوه. په دغه اعلامیه کې داسې راغلي دي:«...ما ازین جنګ متاسف ایم زیرا بزرګترین قربانی درین جنګ وحدت ملیت های محروم افغانستان است. ما مخالف هرګونه جنګ و درګیری مخصوصا درګیری بین ملیت های محروم افغانستان هستیم . آیا این اقایون در مورد منافع وخواست ملیت شان فکر می کنند ویا قدرت طلبی شخصي را بالا تر از منافع ملیت تاجک میدانند؟»-«متن اعلامیه هزاره های مقیم امریکای شمالی» توسط «رادیوی صدای افغانستان» در شهر لاس انجلس، کلیفورنیا، بتاریخ ۲۲ دسمبر ۱۹۹۲ پخش ګردید

۵- د حکمتیار، دوستم او مزاري په «همآهنګی» کې هم ملیت په ملت کې نیغ نیغ شوی دی:«این جنګ که محصول انحصار طلبی ها و ماجرا جوی ها و عهد شکني های جمعیت مسعود رباني میباشد قیام ملی یی برګسیست که همه ملیت ها، احزاب جهادی و قوماندانان و قوت های مسلح اطراف... در آن شرکت دارند.»- اعلامیهٔ شورای عالی همآهنګی انقلاب اسلامی

۶- سراج وهاج چې د «درد دل افغان» خپروني «نګارندهٔ مسوول» دی. د دغې خپروني په لومړۍ ګڼه (نومبر ۱۹۹۷= عقرب ۱۳۷۶) کې داسې کاږي: د افغانانو په روانه غمیزه کې د روسیې رول «برجسته تر از هر نقش سیه دیګر است.... یکی از نکات مهم که در ذهن چند جوان نمی بایست باقی بماند(ولی متاسفانه نقش فی الحجر شده) کلمه ,,ملیتها,, است که ګویا ترجمه کمونیستی «اقوام» افغانستان بوده ،هرجا کلمات «اقوام افغان» ذکر شود، به منظور بهره برداری سیاسی آنرا «ملیتهای افغان» ترجمه و تفسیر مینمایند.» ۶ مخ

۷- ډاکتر سید عبدالله کاظم هم د روسانو «عمده ترین حمله» ته متوجه دی:«عمده ترین حمله آنها دامن زدن به اختلافات قومی، زبانی و مذهبی بوده که تحت عنوان ,,حقوق اقلیتها,, اشاعه ګردید. آنها پشتونها را در چوکات اقوام بجان هم انداختند و ازبک، ترکمن وهزاره و تاجک را زیر نام ملیتها تحریک کردند، با اعطای پولی و امتیاز خودمختاری ها در بین اقوام نفوذ کرده، قطعات نظامی را تحت غوندهای قومی وملیشه ها تاسیس نمودند.» -«جنایات سرخ در افغانستان:تفرقه،توطئه،تجزیه»: اتحاد آزادګان، حمل- سنبله ۱۳۷۲=اپریل- سپتمبر ۱۹۹۳، مخونه ۱۸۴-۱۸۹

**ملت یو ډیر پیچلی سیاسي واقعیت دی**. که څه هم هر اړخیز تعریف یې د ملي واقعیتونو د ځانګړتیاو له امله ناشونی دی، تر اوسه پورې یې هر چیرې شته والي ته اړتیا لیدل کیږي، او هیڅ ډول مکتبي ایډیالوجیک رژیم هم د دې وس نه لري چې په ښکاره ډول له خپل ملت نه انکار وکړي، خو دا چې د ملي ګټو په خوندي کولو کې پاګل وي. خپل ملت ته څوک مبارز ملت وایي، څوک یې مسلمان ملت ګڼي، د چا په شعور کې د کلتوري ملت په حیث شته وي،

څوک يې د تاريخي ملت په حيث درناوی کوي، چا ته د غيرتمن ملت په حيث نازولی وي، او څوک پرې د مجاهد ملت په حيث وياړي. بې ملته دولت مړګونی دولت دی. ملت چې شته شي دولت غواړي او دولت چې شته شي ملت ساتي. دولت چې هر څومره د ملي ټولنې په جوړولو کې غافل وي، نــو هغـومره د ملي يووالي، ورورولئ او ولسواکۍ زړی وچوي. د دولت او ملت د اړکيو لپاره بايد لومړی په مليـيت پـوه شـو

**ملــيــت (نيشنـاليـټي)** درې څـنـډې لري: حقوقي، ټولنيزه او سياسي

**١**ـ د حقوقو له نظره، مليت يو ډول تړون (قرارداد) دی د وګړي (فرد) او دولت تر منځ چې د دواړو خواو تر منځ اړيکې ټاکي. يعنې مليـت په دولـت کې د وګړي (فـرد) غـړيتوب ته ويل کيـږي. په دې ډول چې وګړی د خپل دولت د تـبـعـه ( نيشنل، سيټـيـزن، هيوادوال) په حيث له خپل دولت نه حفاظت غـواړي، او دولت د ساتندوی په حيث له خپلو اتباعو (هيوادوالو) نه ژمنه غواړي. په بله وينا، په حقوقي لحاظ مليـت د تبعيت (سيـټـيـزن شيپ) په معنا چليـږي چې د دولت سره کيـږي. کله چې د يوه وګړي حقـوق اوامتيازونه په يو دولت کې خوندي شي، د هيـوادوال (تبعه) مقام ته لوړيـږي چې په درې (٣) لارو لاس ته راوړل کيـدلی شي: ((الف) د زيـږيدنې د هيواد(«جَس سولي» له لارې، (ب) د زيـږيدنـې په وخت کې د مور يا پلار د تبعيت (جَس سنګوينيس له لارې، او (پ) د بل هيواد له خوا د منل کيدلد (نيچرالايـزيشن) له له لارې

Jus Suli, Jus Sanguinis, and Naturalization

**٢** - سربيره په حقوقي خاصيت، مليت ټولنيزه معنا هم لري. په ټولنيز هويتي مفهوم، ملـيت قوم او اقليت هم منعکسوي چې سيمه ييز، کلتوري، ديني، مذهبي، او ګاونـډيز واقـعـيتونه پکې رول لوبولی شي. په ټولنيز مفهوم ، په افغانستان کې د ملـيت د ټکي په تناسب د قوم ټکی ډير معمول و او دی. نن هم نه شي اټکل کيدلی چې عوام دې د خپل پيژاند (هـويت ) په اړه د ملـيت ټکی استـعـمـال کړي

**٣**- د حقوقي او ټولنيزو معنا ګانو په خوا کې د مليت کلمه دريمه څـنـډه يعنې سياسي معـنا هم لـري. په يوه ټـولنه کې چې يو ټولګی د مليت په دو همه يا اجتماعي معنا يعنې د قوم په شکل را پورته شي او د خپل کلتوري، ژبني، ديني، مذهبي، او ګاونـډيز هويت په بنسټ د خپل دولت د جوړولو يا د خپلې خودمختارۍ د لاسته راوړلو په تکل کې شي ، نو په دغسې پرځنګي (مبارزوي) حالت کې قوم (هويتي شته والی) په مليت (سياسي شته والي) اوړي. په افغانستان کې د ١٩٧٨ د اپريل (غويي ١٣٥٧) د رټلې کودتا او ملي غميزې راهيسې د مليت د ټکي سياسي معنی ډير زور ميندلی دی او په اټکل هرې بڼې بدې کې د ستمي-اقليتي کړيو له خوا نيغ نيغ کيـږي. له د ې امله افغان ملي ګران(ملي خوښي) په مـليـتګرانو(مليت خوښو) شکمن شوي دي چې د ټول افغانستان د تجزيې د حرکت په مسير کې روان دي

ډاکتر محّمد عثمان روستار تره کی ليکلي دي چې: «شوروي ها ناسيوناليزم پښتون را تبلور ناسيوناليزم افغانی قياس ميکردند. اعم از همين رو عليه پښتون های ناسيوناليست اعم از آنکه در داخل ح.د.خ. (حزب دموکراتيک خلق) بودند (در وقت حکومت امين) و يا خارج آن،

موضع بسیار خصمانه داشتند. آنهم در حالیکه ناسیونالیزم محلی سائر اقوام را تشویق میکردند. به همین مقصد ترجیح میدادند تا به اطلاق اصطلاح ,,ملیت,, به اقوام اقلیت افغانستان هویت آ نها را در بطن جامعه افغانی به شیوه مصنوعی متورم جلوه بدهند و احساس رقابت شانرا نسبت به پښتونها زنده نگه دارند.» افغان ملت، ۸۸-۸۹ پر له پسې ګڼه. اکتوبر ۱۹۹۹=تله ۱۳۷۸

کله چې ملیت (نیشنالیټي) په سیاسي معنا خپلې موخې (هدف) ته ورسیږي، یعنی خپل دولت یا دولت وزمه جوړښت را منځته کړي، نو ملیت په سیاسي لحاظ په غټ مجموعي سیاسي هویت یعنې په ملت(نیشن) بدلیږي. خو په حقوقي لحاظ بیا هم په نوي دولت کې د ملیت (اتباع، تبعیت) په معنا پاتې کیږي. په سیاسي او حقوقي لحاظ ، په ساده ډول ملیت جمع دولت مساوي دی په ملت، یعنې ملیت + دولت = ملت

Nationality + State = Nation

دلته د خپل دولت په جوړولو سره ملیت په سیاسي ملت(نیشن- سټیټ) اوړي. لکه چې وینو د دولت شته والی ملیت له قومي هویتي حالت نه سیاسي مقام (ملت) ته رسوي. د خپل دولت په جوړولو سره ملیت( نیشنالیټي) د مټ خاوند کیږي. د خپل دولت له لارې ملیت په سیاسي ملت اوړي، یعنې دولت دی چې ملیت او دولت نښلوي

کمال مطلوب یا غوره سیاسي ټولنه هغه ده چې ملت (هیواد والان، اتباع) یې د کوربه حیثیت او احساس ولري، نه د لاروي. کمال مطلوب یعنې غوره سیاسي ټولنه هغه مهال روغه پاتې کیږي چې: (۱) د دولت (موسساتي عملیې) ځیره په کې په ښایسته ښه اندازه د ملت ځیرې او کلتور ته ورته وي. (۲) کلتوري ملت په کې د دولتي ملت (سټیټ نیشن) یعني سیاسي ملت په بریدونو کې غځیدلی وي. (۳) ګاونډي دولتونه په کې د ګډ کلتوري ملت د ناندریو وس نه لري، او (۴) د ملت کړاندې (کارنامې) دومره پخې شوې وي چې په راتلونکی کې په اسانی سره د ګډو هڅو زیری ورکوي.

د نړۍ د وګړو ستر اکثریت خپله ټولنیزه او سیاسي راشه درشه په هغو هیوادونو کې چلوي چې څو قومونه پکې ژوند کوي. په ۱۹۹۷ کې د نړۍ د ۱۸۷ هیوادونو په ډله کې یوازې په یوولسو (۱۱)کې قومي تجانس تقریبا بشپړ (۹۹٪) بنودل شوی دی . یعنې دغه هیوادونه لږترلږه یو داسې اقلیت نه لري چې د ملاحظې وړ وی. په بله وینا، دغه ۱۱ دولتونه چې نږدې یو قوم پکې اوسیږي، د نړۍ د وګړو ۷٪ نفوس جوړوي. د نورو هیوادونو لپا ره قومي تجانس داسې ښودل شوی دی: پاکستان ۴۸٪، سویس ۶۳٪، ایران ۴۵٪،د امریکې متحد ایالتون ۷۴٪، جرمنی ۹۳٪، بنګلادیش او جاپان هر یو ۹۹٪ او کاناډا ۲۳٪ . ولولي لاندې کتابونه

George T. Kurian. Ed., The Illustrated Book of World Raning (1997); Raymond A. Hall, ed., Ethnic Autonomy: Comparative Dynamics (1979); Thomas H Eriksen< ethnocity and Nationalism (2002 2nd ed); ibid, Flag, Nattion and Symbolism in Euroe and Amrica(2007)

په نړۍ کې په تیره په عنعنوي ټولنو کې د استعماري لیکو(کرښو) له لارې «اداري ملتونه» د استعمار د ګټو لپاره خلق شوي وو. لویدیز استعمار په افریقا کې له طول البلد او عرض البلد

نه کار واخیست او د هند په نیمه قاره کې یې دین ( اسلام او هندویزم) وکاراوه. د هند(اِینډیا) نوم له «اِینډوس» (اباسین) نه واخیستل شو، یعنې اباسین د هند طبعي،کلتوري برید دی اوپه راتلونکی کې د ټول-افغانستا سیاسي پوله جوړولی شي. خو پاکستان چې سیاسي او دولتي تاریخ یې نه لاره، ترکیبي نوم یې غوره کړ. د خپلو کړاندو(اعمالو) له مخې پاکستان ته برتانوي پاکستان ویلی شو.
ډیر ځلي کړکیچونه د قوم، دین، مذهب اوژبې په سر راپورته کیږي. وروري او ولسواکي په حساب چلیږي. که ډیره کیان او لږه کیان په حساب پوه شي او د نورو ملي ټولنو له ملي واقعیتونو نه زده کړه وکړي، کلتوري-هویتي واقعیتونه به یې د وروری او ملي یووالي لار ونیسي. د پښتو یو متل دی :«له کور او کلي وځه، خو له نرخه مه وځه.» په پای کې له منلي ډاکتر جاوید وردگ (تورانتو، کاناډا) نه ډیره مننه کوم چې زما پام یې د ملیت او ملت د ټکو څیړني ته راوګرځاوه

# خراسان د افغانستان په ځای؟! د ستمیانو شر او شور

ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار

په ساساني امپراتوری کې(۲۲۴تر۶۵۱م) ټول اوسنی ایران، عراق، ختیزې عرب سیمې (بهرین، کویټ، عمان،قاتیف،متحدعرب امارات)،د بحر د غاړې/لیوانت هیوادونه (سوریه، فلسطین، لبنان، اسرائیل، اُردُن)، قفقاز(ارمنیستان،جورجیا، اززبایجان، داغستان)، مصر،د تُرکیې غتې برخې،افغانستان، او د مرکزي اسیاغتې برخې(ترکمنستان، ازبکستان،تاجیکستان)، یمن او د اوسني برتانوي پاکستان سیمه شامل وو. دې پیچلې او خورې ورې امپراتوری د دې تومنه نه لرله چې ټکنالوجی (د علم استعمال) ته لار پرانیځي.

اوس واقعیت داسې دی چې افغانستان په نړۍ کې د یوه هیواد په څیر شته دی، او خراسان په ایران کې د ۱۳۸۳ لمریز(۲۰۰۴) پورې د خورا غټ اداري واحد یا یوه ولایت رسمي نوم و، خو په ۲۰۰۴ کې په درې ولایتونو وویشل شو او د درې واړو ولایتونو نومونه د خراسان په نوم پیل کیږي. دا هم یو سیاسي واقعیت دی چې اټکل درې اتیا (۸۳) کالونه وړاندې په ۱۹۳۵زییز کې د فارس نوم په ایران واړول

شو. ویل کیږي چې د فردوسي په شهنامه کې د ایران نوم راغلی دی[ داکتر حسن انوری،«ایران در شاهنامه» انتشار ۲ اردبیهشت ۱۳۹۳
http://bukharamag.com/1993.02.2764html  [28 April 2015]
دغه شان په جرمني کې د هیټلر قدرت ته رسیدل به  هم رضا شاه پهلوی دیته هڅولی وی چې د خپل هیواد نوم له فارس نه ایران ته واړوي. د ۱۹۳۳ د جنورۍ په ۳۰ نیټه هیټلر د جرمنی صدراعظم وټاکل شو. د نازیانو په اند، اریـایي نژاده جرمنیانو له نورو نژادونو لوړ مقام لاره. په ۱۹۳۵ کې د جرمنیانو دغه ډول نژادي سرلوړتیا په رسمي پالیسۍ واوښته. دا چې ایران له روسیي/شوروي اتحاد او برتانیي نه نفرت لاره، ښایي په دې کې  به د ایران واکمن رضا شاه پهلوي خپله ګټه لیدلې وی چې ځان د ادولف هیټلر اریا ئیتوب ته نږدې کړي او خپل هیواد ته د ایران نـوم ورکـړي.
افغان سید حسین موسوي په خپله درنه رساله کې د خراسان په اړه اغیزمن بحث کړی دی او په افغانستان کې د رواني کرغیـړني وضعي په چوکاټ کې یې د خراسانیانو دریځ د نیوکې لاندې نیولی دی: «آیا این لا اقل بی مبالاتی و غیر مسسولانه نیست که در چنین شرایطیکه کشور ما اشغال گردیده و از در و دیوار آن خون می بارد و سرنوشت خلق ما درکاخ سفید رقم می خورد، در عوض دعوت مردم به وحدت و یکپارچگی به منظور پیشبرد امر مبارزه استقلال طلبانه، و سازمان دهی توفان سهمگین  از قطرات پراګنده و مجزای ملت بدان منظور؛ موجودیت کشور را زیر سوال بـرده، نیـرو هــای رزمـنده میهن را به دنبال ,,نخـود سیاه ,, خـراسان سـرگردان نمـود؟ - ,,لا اقل,,  را که در اغاز بند بالا آمـده فـراموش نـکنـیـد!»( سال ۱۷۴۷ میـلادی بـاز تـولـد یـک کشور کهـن. چاپ میزان ۱۳۸۴= ۲۰۰۵. اداره ترجمه و تحقیق القلم، پشاور،۲۸ تـر  ۳۳ مخونه). د تاریخ په اوږدو کې د خراسان د کره پـولـو ټاکل یو «لاینحل مشکل» پاتي شوی دی. له همدې امله د هغه مهال جغرافیه پوهانو روغه وګڼله چې خراسان په دوه برخو«عام او خاص» و ویشي، « که اگر خراسان خاص با جا دادن باختر در خود  شامل ولایـات نیـشاپور،هرات،مرو،تخارستان،بلخ، ماورالنهر و خوارزم بر طبق نوشتاربلاذری [امام احمد بن یحی بن جابر بغدادی متولد اواخر قرن دوم هجری قمری در بغداد،او متوفی ۲۷۸-۲۷۹ هق=۸۹۲ زبیز] می شد، خراسان عام با کمی اختلاف همان حدودی را شامل می شود که بعد ها امپراتـوری درانی بر آن حاکمیت داشت چنانچه در حدود العالم[من المشرق الی المغرب، د بینوم لیکوال اثر]از حدود اربعه خراسان صحبت بمیان آمده می نگارد، شرق آن هندوستان،شمال آن رود جیحون، غرب آن

گرگان و جنوب آن بیابان سیند و بیابان کرمان...می سازد....باز هم در ادامه بحث لطف نموده پاسخ دهید که وقتی ,,کاروانیان آنچنانی,, از خراسان دم می زنند منظور شان کدام خراسان است؟ خرا سان خاص و یا خراسان عام؟! اگر منظور ,,خراسان خاص,, است می توانید شما به نمایندگی از بقیه همفکران تان ,,کاروانیان آنچنانی,, بنویسید که بقیه کشور را قصد دارید به کی بگذارید؟» ولولئ موسوی، ۳۵-۳۸ مخونه

د خراسان گونگوسی د شورویانو په وړاندې د افغانانو د جهاد په مهال (۱۹۹۲-۱۹۷۹) پیل شو. د ۱۳۶۰-۱۳۶۵لمریز هجری( ۱۹۸۱-۱۹۸۵) کالونو په مینځ کې په پېښور کې عیار خراسان، اشک خراسان، کمپ خراسان...وزیږیدل. تقریبا لس کالونه وروست په ۱۹۹۵ کې په لویدیزه نړۍ کې د بې نومه خراسانیانو یعنې د خراسان د بې نومه ذوقمندانو یوه رساله تیته شوه چې دلته یې د بحث لاندې نیسم، ځکه چې د ستمیانو «شر او شور» په کې راغونډ شوی دی. په جرمني کې د ملي پانګه وال امام الدین ساپي په مالي لګښت (د سپین غر کتاب چاپولو ټولنې) له خوا په جرمني کې په ۱۳۷۳ هجری لمریز(۱۹۹۵) کې د قدرت الله حداد یوه لیکنه په ۷۲ مخونو کې خپره شوې وه چې سرلسک یې دی: «د ملي تاریخ فلسفه او پښتونولي». حداد د خپلې دغې لیکنې په اکله کاږي چې دغه لیکنه «مورد انتقاد برخی ذوقمندان خراسان قرار گرفت.» (تله، لومړی کال، دریمه ګڼه، فبروری ۱۹۹۶، مخ ۴). د خراسان د ذوقمندانو ذکر شوې رساله په امریکه او اروپا کې د ۱۹۹۵ په دسمبر کې په ۳۶ مخونو کې په دې سرلیک تیته شوې وه:«خراسان سرزمین ازادی و اتحاد ملی، نقدی بر نوشته اقای حداد زیر عنوان (د ملی تاریخ فلسفه او پښتونولي)». دا اوږد سرلیک به د اسانتیا لپاره په «رساله خراسان» لنډ کړم.

په رساله خراسان کې لیکوال او راویستونکی په پټو (مستعار) نومونو هم نه دي ښودل شوي. د خپرندوی نوم هم نه دی ښودل شوی. خو په ۲۶ مخ کې یې د «نویسندگان» او په ۲۸ مخ کې یې د «نگارندگان این مجموعه» ټکي کارول شوي دي. پایله دا شوه چې رساله یا «مجموعه» د یوه لیکوال له قلم نه نه ده راوتلی، بلکې د یوه ټیم («نگارندگان») له خوا لیکل شوې ده او د ستمیانو د مجموعی تفکر ځرګندوی ده. زما (ځیرکیار) سر په دې خلاص نشو چې «نگارندگان» د خپلې رسالې په وروستني مخ کې نورو ته ولې په مفرد شکل(د یوه نگارنده په ډول) خطاب کوي:«پسرانم دخترانم هوشدارید که دشمن بربر...» (مخ ۳۴). په فارسي کې به روغه وای که چیرې نگارندگانو د «پسرانم دخترانم» په ځای داسې لیکلي

وای:«پسران و دختران ما». دلته خو داسې معلومیږي چې نګارندګان (جمع) مساوي دي په نګارنده(مفرد)؟! ښايي په خراساني سبک کې به ګرامرارزښت نه لري او مفرد به مساوي په جمع وي؟
د رساله خراسان د درښت لپاره به فرض کړم چې دغه «مجموعه» د نګارندګانو مجموعی تفکر منعکسوي. قدرت الله حداد ذکر شوې رساله «شبنامه مجهولين» ګڼي او نګارندګانو ته يې په لنډ ډول داسې جواب ورکوي: «مجهولين می ګويند ما افغان نيستم- ما تاجک، ازبک و هزاره می باشيم. خداوند خوب کند. نام بلند اوازه افغان برشماګرانی نمود. ولی شما اين وکالت را چه وقت به دست آورده ايد که از جانب اين اقوام به صدور فيصله غايبانه پرداختيد؟ شما اګر کسی بوديد نام تانرا سر نوشته می نګا شتيد!»- تله، ګڼه ۳، فبروری ۱۹۹۶، مخ۴ . د حداد ليکنه داسې ښيې چې د رساله خراسان په ليکلو کې به د «اميد» اخبار ليکوالان او« مجهولين» انډيوالان وي.
خراسانيان نه يوازې د پښتون افغان سره په ټکر کې دي، بلکې په خپل هيواد کې د هغوی د ژبې (پښتو، افغاني) ترويج ، تعميم او واقعاً رسمي کيدنې ته په کنګل کې خولې کيږي او فاشيزم يې ګڼي. د ستم ملي او خراسان ذوقمندانو! وګورئ ،کانديد اکاډيميسن محّمد صديق روهي د تعصب خاوندانو ته څومره ښه ويلي دي: «**که خپلې ژبې ته کار کول تعصب وي نو په نړۍ کې هيڅوک بې تعصبه نه شته.**»- سرمحقق زلمی هيوادمل، «پښتو او يويشتمه پيړۍ»، هيله، دوه مياشتنۍ خپرونه. دريم کال، پنځمه ګڼه، پرله پسې ګڼه ۱۷، ليندۍ – مرغومی ۱۳۷۸ هجري لمريز= دسمبر- جنوری ۱۹۹ تر ۲۰۰۰ زيېز، مخ ۱۷۹
دافغانستان يوغټ کړکيچ په هغه توپيرراڅرخی چې د سياسی هيوادوال (سياسي تبعه) اوکلتوری هيوادوال(کلتوري تبعه) ترمنځ عملاً په دولتي رسمي اداروکی ليدل کيږي. دهيوادوالۍ (تابعيت) مفهوم په حقوقی بريدونوکی خاپوړی کوی، په دی ډول چی څوک په سياسی حقوقي ټولنه کی شامل دی اوڅوک ورنه محروم. په افغانستان کی د فرهنګي حقوقوکړکيچ په دی موضوع کی پروت دی چی سياسی هيوادوال ته حقوق خوند ورکوی، خوله مسوليت نه ډېره کوي اوپه رسمی دولتی مقامونوکی په عمل کی ملي رسمي کفايت نه مني. په بله وينا، په رسمي موسساتي ډګر(دولت) کی يوه ډله بشپړامتيازلري چی په دولت کی دخپلی ژبی(فارسي)انحصارټينګ کړي او مقابل اړخ(اکثريت) له دې نه محروم کړي چی خپله ژبه (پښتو)عملاً لږ تر لږه د فارسي سره مساوي مقام ته ځګه کړي.

د زييز ۲۰۰۱ له اکتوبر راهيسي،د امريکی دنيواک په چاپيريال کی په افغانستان باندی په ورتپل شوي اساسي قانون (۱۳۸۲ لمريز، ۲۰۰۳ زييز) کی چې په واقعيت کې د اساسي بيلتون سند دی «پښتواودری د دولت رسمي ژبې » منل شوې دي(ماده ۱۶). د لته د « او» تکی دکلک پام وړدی. د «او» تکی مساوي په «يا» نه دی. يانې داساسي قانون دشپاړسمې(۱۶) مادې پورتنۍ جمله مساوی په دی جمله نه ده: پښتويا دري د دولت رسمی ژبه ده؟! خوغير- پښتون افغانان د رسمي دولتي وظيفې په اجرأ کولوکی د شپاړسمې مادې په ذکرشوی جمله کی د «او» له تکی نه سترگی پټوی، اوپه دی ډول په خپله رسمی ملی بی کفايتۍ څپونی غوړوي. په کال ۲۰۰۵ کې يوپښتون افغان امريکی ته د ژور نالیستی زده کړولپاره راغلی و. ما له تلفوني روغبړاو اوپيژندگلوۍ نه وروسته هغه وپوښته چی په کابل کی يی څه وظيفه لرله؟ راغبرگه يی کړه چی د يولوړمقامه افغان ژباړن و، ځکه هغه په پښتونه پوهيد. زما(ځيرک يار) په گومان دغه لوړ مقامه افغان به يو مرستيال ولسمشرو. دغه لوړمقامه فارسيوان افغان يوسياسی هيوادوال دی چی حقوق خوند ورکوي، خوکولتوري هيوادوال نه دی چی زړونه کوشيرکړي.

اوس په افغانستان کې د ادغام سياست بر لاسی ښکاري او دامريکی د ښکيلاک لاندی افغانستان کی «کا بل د مشهد په شان » دی. هغه ولس چی خپل دولت يی نه وي جوړکړی، رسمي ژبه نه لري، خوپه مقابل کی يی ملي ژبه لري. ملی ژبه د ډيرکيانو ژبه ده او د ملت لپاره د اصالت او پيژاند ژبه ده. ملي ژبه نه يواځې دا چې د ملي بيرغ اوملي سرود په شان د سمبول مقام لري، بلکې د هيواد په سياسي اقتصاد کې هم رول لوبوي . ژبه د ملې کيدلو بنۍ ده(لکه په امريکه کې). پردۍ ژبه ملي کيدلی نشي، خو رسمي کيدلی شي. هغه دولتونه نيکمرغه دي چې رسمي ژبه يې په ولس گرانه وي، يانې ملي او رسمي ژبه يې يوه وي. هغه دولت نيکمرغه دی چې په رسمي ژبه کې يې د بل دولت لاس نه وی. هغه دولت بدمرغه دی چې رسمي ژبه يې د ملي ژبې سره په ټکر کې وي. هغه ولس چې خپل دولت يې نه وي جوړکړی،رسمي ژبه نه لري خو ملي ژبه لري. په تاريخ کې يو استثنا هم شته: په داسې حال کې چې يهودانو په فلسطين کې دولت نه لاره، د يوې سياسي ډلې په ځير د هغوی عبري ژبه په فلسطين کې د انگريزي ژبې او عربي ژبې په شان د برتانوي واکمنانو له خوا رسمي اعلان شوه. پښتو د يوې رسمي ژبې په حيث او سر بيره پر دې د ملي پيژاند د يواځينۍ ټاکونکې خزانې په حيث د افغانستان په بيلابيلو رسمي قلمرونو کې (لکه د هيواد په دننه کې په وزارتونو،

او دغه شان د هیواد د بهرني سیاست په دیپلوماتیک موسسو کې یعنې په سفارتونو کې) محرومه ساتل شوې ده.

# افغانستان او افغان «ناموزون و بیجا» نومونه

داکتر رحمت ربی ځیرکیار

ستمیان د ملی او سیاسي هویت لپاره د «افغان» او «افغانستان» نومونه «ناموزون و بیجا» ګڼي او په ځای یې خپله سیاسي تنده په خراسان ماتوي. په ذکر شوي رسالۀ خراسان کې د افغانستان نوم پینځه(۵) ځلې د«افغانستان» په بڼه لیکل شوی دی او څلور دیرش (۳۴) ځلې د «افغان ستان» په بڼه کښل شوی دی (۱۵، ۱۶، او ۳۱ مخونه). په رساله خراسان کې راغلي دي چې د افغانستان نوم د نولسمي (۱۹) زیېزې پیړۍ په پیل (۱۸۰۱) کې «برای اولین بار قسمت پشتون نشین را بنام افغانستان یاد نموده اند قبل از آن ازهمچو نامې اشاره و اثری دیده نشده است....افغانستان امروزی محدود به قطعه خاکیست که بعد از وطنفروشی های متواتر از پیکر خراسان جدا نمودند.»۵ تر ۶مخونه

غوږ به ونیسو پوهاند حبیب الله تږي او پوهاند عبدالحی حبیبي ته: تږي د ۱۹۹۸ د مارچ – اپریل په میاشتو کې په پیښور کې یوه لیکنه خپره کړه چې سرلیک یې دی: «افغانستان، جبال الافغانیه، کشور افغان، روه او...». تږي خپله دغه لیکنه د پخوانیو لیکنو په متې غښتلې کړې ده. په هغو لیکنو کې چې د ۴۲۱ هجري او ۱۰۳۳ هجري په منځ کې کښل شوې دي، او د افغان، افغانستان ،اوغانستان، کشور افغان، مرز افغان، او حد افغان په اکله معلومات پکې خوندي شوي دي. د دغو پخوانیو لیکنو په استناد، تږی دې پایلې ته رسیږي: «دافغانستان نوم د څوَرلسمې میلادي پیړۍ د اولې نیمايي را په دیخوا په پرله پسې ډول په تحریري اثارو کې راغلی دی او څرنګه چې د څورلسمې پیړۍ په اوله نیمایي کې د بیخي یو معمول نامه په توګه په تحریري لیکنو کې بیا بیا یاد شوی دی، نو سړی په زغړده ویلی شي چې دا نوم د سیمې په خلکو کې د یوې جغرافیایي ساحې په توګه له څورلسمې پیړۍ نه پخوا معمول او متداول و.»

- آزاد افغانستان، د افغانستان د مطبوعاتو نشراتي ارګان. لومړی کال، لومړۍ ګڼه، وری ۱۳۷۷لمریز= مارچ-اپریل ۱۹۹۸، مخ ۲۵. د بیلګې په ډول، د«افغانستان» او «اوغانستان» نومونه د سیفي هروي په «تاریخ نامه هرات» کې (۷۱۸-۷۲۱ قمری هجری) [۱۳۲۱-۱۳۱۸زییز]کې نږدې ۳۵ ځلې د افغانستان په بڼه او دوه(۲) ځلې د «اوغانستان» په بڼه خوندي شوي دي. دغه شان ولولئ حبیب الله تږی- نیازي، «د افغانستان د هویت او د پښتنو د اجتماعی ژوند یوه نوې مطالعه»، وږمه (۱۵ کال، ګڼه ۵-۶، ۱۳۵۰ زییز=۱۹۷۲، مخونه ۷-۳۰).

پوهاند عبدالحی حبیبي خپله یوه لیکنه په دې جمله پای ته رسوي: «موږ اولس سوه(۱۷۰۰) کلن افغان او اووه سوه(۷۰۰) کلن افغانستان د خپل ویاړ او ملي یووالي او تاریخ د چینې په څیر پیژنو.»ولولئ

Etymology of Afghan and Afghanistan,WUFA (Writers Union of Free Afghanistan, published in Peshawar), Vol.6, No. 3(May-June 1991), p. 32

د «مجهولينو» د رسالۀ خراسان په يو مخ کې[ايرانی؟ که د ميدان د بهسودو د سيمې کوم افغان؟] «اقای بهسودی يزدانی »[ بل ځای يزداني بهسودی] په خراسان ويرکوي:«بديهی است که اين سرزمين تاريخ وبا عظمت که دارای اقوام گوناگون می باشد افغان ستان برايش نام مناسبی نيست زيرا (افغان) تنها نام يکی از اقوام است در صورتيکه در ساختمان وجودی اين کشور تمام اقوام ساکن ان شريک و سهيم بوده و اين حق مشروع مردم ان است که اگر خواسته باشند نام انرا دوباره به خراسان برگردانند.» ۱۶ مخ. [ما په اينټرنيټ کې د يزداني بهسودي په اړه معلومات ونشو ميندلی: ۲۹اپريل ۲۰۱۵] - ځيرکيار

په ايران کې د خراسان ولايت (استان) د ۱۳۸۳هجری لمريز (۲۰۰۴) پورې ۳۱۳۳۳۵ کيلومتر مربع ارتوالی لاره چې د ذکرشوي هيواد تر ټولو ستر ولايت و او د هغه يوه پينځمه(۵/۱) برخه يې جوړوله. ولې فارسيانو په ۱۹۳۵ کې د ايران په ځاي د خپل هيواد نوم په خراسان وانه ړاوه؟ د افغانستان خراسانيان د يزدانی بهسودی په تال داسې تللي دی:«تحت نام افغان که خود نمايان گر نفاق ملی و اسم جدايی طلب در يک مملکت کثيرالاقوام است واضح که اتحاد ملی و مفهوم افغانی دو مفهوم متضاد و متناقض ميباشد.... و ديده ميشود که ضرورت نام نامی خراسان يک احتياج ملی وميهنی است.... اين نام در سينه های مرد وزن غير پشتون چون درخت تنومندی ريشه دارد اين نام زنده و زيبا است.» ۱۸ مخ

« از بررسی نظرات ارائه شده چنين استنباط می‌شود که صورت درست واژه ,,خراسان,, ,,خورستان (خور+ستان = سرزمين مطلع خورشيد),, بوده‌است که بر اثر تطور زمان و شايد از باب تطابق نگارش به خراسان تبديل شده‌است.... شواهد تاريخی بيانگر آن است که سرزمين خراسان در طول تاريخ، هيچ گاه دارای مرز ثابت جغرافيايی نبوده و تحت تاثير عوامل مختلف، محدوده‌اش همواره کاهش يا گسترش...»- ويکی پديا دانشنامه ازاد ۲۹: اپريل ۲۰۱۵[ ايا خراسان کوم وخت کوم پايتخت لاره؟]- ځيرکيار
پښتون له ډير پخوا راهيسې ځان افغان ګڼلی دی. غير پښتون قومونه هم ځان ته د افغان په سترګه کتلی شي. د افغان نوم ملي مقام لري. مخکې له دې چې افغانستان د ملي دولت په څير په اتلسمه زييزه پيړۍ کې رامنځته شي، خټک خوشحالخان بابا «د افغان په ننګ توره» تړلې وه. پښتون ته به په کابل کې کله ناکله «افغان غول» ويل کيده. «غول» چې په هره معنی و، د «افغان» سره د ترکيب له امله پښتون افغان منلی و. په دې ډول ويلي شو چې د افغان نوم ملي/عامه ملکيت ګرځيدلی دی او پښتون افغان په دې خوښيږي چې غيرپښتون افغانان( ښځينه او نارينه) هم ځانونه افغان ملت ته منسوب وګڼي، نه افغانستاني يا خراساني ملت ته. دا واقعيت

دی چې د افغانستان نوم د افغان له نامه نه راوتلی دی، د هغه افـغـان له نامه نــه چې مخکې له سیاسي ملت کیدنې یې پـه «افـغـان» ویـاړ کاوه:
د افغان په ننګ مې وتړله توره......ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

وګوره د نړۍ د دوه مهمو هیوادونو نومونو ته. یو د نړۍ ستر اقتصادي، تخنیکي او عسکري زبرځواک دی چې امریکا نومیږي، او دوهم هغه مهم هیواد دی چې د اسلام دین پکې راغلی دی – هغه دین چې د نړۍ نږدې دوه بلیون انسانان یې په بیلابیلو څیرو،رنګونو او ژبو درناوی کوي. د دغه هیواد نوم سعودی عربستان دی. د امریکې د متحدو ایالتونو او د سعودي عربستان نومونه د اشخاصو د نومونو سره نښتي دي: د امریکې نوم د «امریکو وسپوچي»له نامه نه راوتلی دی. امریکو(۱۴۵۴ تر ۱۵۱۲)په ایټالیه کې زیږیدلی و او په ۱۵۰۵ کې هسپانوي تبعه شوی و. نوموړی ادعا کوي چې په ۱۴۹۷کې یې نوې نړۍ میندلې وه. سره له دې چې ځینې اوسني څیړونکي شکمن دي چې امریکو به د امریکې په میندلو کې کوم رول لوبولی وي، تر نن پورې د امریکا نوم امریکا پاتې شوی دی. دغه شان محّمد ابن سعود د عربود یوې قبیلې مشرو او په ۱۷۴۵م کې د نجد امیر شو. په ۱۹۳۲ کې اوسنی سعودي عربستان رامنځته شوچې د ابن سعود د نامه سره نښتی دی.
ټول افغان ملت د خپل ملي دولت د جوړولو په پرځنګ (مبارزه) کې، په کوزه خوا کې د سوریانواو لودیانو او په بره خوا کې د میرویس نیکه ( ۱۷۰۷) او احمدشاه بابا (۱۷۴۷) په سربښندنو پوهیږي. افغان ملت میرویس هوتک ته د خپل نیکه او احمد شاه ابدالي ته د بابا په څیر درناوی کوي ځکه چې هر یو د افغان د ازادۍ او ملي دولت سازۍ نیکه او بابا و. پښتنو په خپلو وینو د افغان او افغانستان پیژاند (هویت) او دولت رامنځته کړي دي او د دې تـومنــه( ظرفیت) لري چې ویې ساتي. له صفویانو ،مغلانو، انګریزانو، او شورویانونه نیولې تر دې دمه، د امریکې د واکمنې کړۍ د تیري زور د ۲۰۰۱ له اکتوبر راهیسې په خورا غټه کچه پښتون افغان ته متوجه دی. پښتون افغان نه یواځې د بهرنیو قدرتونو د یرغلونو اصلي هدف و او دی، بلکې د یرغلګرو په وړاندې د پاڅون د ثقل مرکز هم و او دی. ګمان کوم په دې وروستیو کې د سهیلي پښتونخوا محمود خان اڅکزي په کوم مجلس کې دا شعر اورولی و
دازموږ قسمت دی چې په وینو کې مزل وهو....... یوقدرت چې ووهو بیا بل وهو، بیا بل وهو
زه د کاندید اکادمیسن اعظم سیستانی(بارکزی) ابتکار پام وړ ګڼم چې د خپل کتاب (آیا افغانستان یک نام جعلی است؟) د لومړي مخ په پیل کې یې، د ولسمشر محّمد داود د دورې د ملي سرود په بیتونو سره د خپل کتاب په سرلیک کې خوندي شوې پوښتنې ته ملي جواب ویلی دی
څـو چې دا ځمکه اسمان وي ......................................... څـو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژونـد په دې جهان وي ....................................... څـو چې پاتی یـو افـغـان وي
تــــل بـــه دا افــغــانــســتـــان وي

کاندید اکادمیسن اعظم سیستانی (بارکزي) ،آیا افغانستان یک نام جعلی است؟(مجموعۀ ۲۰ مقالـه). پیښنور: دانش کتابتون، ۲۰۰۷ =۱۳۸۶هجري لمریـز
خراسان- مزاجه «افغانستانیان » باید مورخ میر غلام محّمد غبار ته غوږ ونیسي: « تا قرن هژدهم ,,افغان,, نـام عـمومی پشتوزبـانان مملکت قـرار گرفـته بـود و تـا قـرن نـزدهم وسعت آن بجایی رسید که نـام عـمومی مـردم افغانستان ...شـناخـته شـد.» - افـغـانـستان در مـسیـر تـاریـخ. لـومړی ټـوک، ۱۹۶۷
افغانان به افغانستانیانو او یا د هغوی ساتونکو ته د دې مجال ورنکړي چې د افغانستان په نوم کې په یـو اوبل ډول گوتې ووهي. پښتون قوم چې خپل دولت (افغانستان) جوړ کړ، ځان یې سیاسي ملت ( افغان ملت) ته جگ کړ. د نوې ملي دولت سازۍ لپاره په کندهار کې د بیلابیلو پښتون قـومونو جرگه روانه وه. د جرگې په نهمه ورځ، یـو غـیـر پښتون افغان کابلي صابر شاه(د یوه کابلي متصوف شخص «لایخوار»، ځوی) د احمد خان ابدالی په پټکي کې د غنمو وږی کیښود او په دې ډول ځوان احمد خان ابدالي د پښتنود مساوي غټانو په منځ کې لـومړی شو(فَرسټ اَمانگ اِیکوَلـز)، یعنې د افغانستان واکمن شو، او احمدشاه بابا شو. په دې ډول احمد شاه بابا په «**پټکي کې د غنمو وږی تاج**» کړ. نورو غیر پښتون ورونـو قـومونو په دغه ملي عملیه کې خپله ګټه ولـیدله او ځانـونه یې نـوي واقعیت او ملي هـویت ته منسوب او شریک وگڼل. د افغان ملت په اوږو د تـاریـخ اوږده او درنـه تجربـه پـرته ده، او د دغې تجربې په مټ به هـیڅچا ته اجازه ورنکړي چې په خپل ملي پیژاند (افغان هـویت) کې یې گـوتې ووهي، په هغه هویت کې چې د افغانانو په ملي دولت (افغانستان) کې ځلیږي. احمدشاه بابا ویلي وو
د ډیلي تخت هیـرومه چې را یـاد کـړم.............. زما د ښکلي پښتـونخـوا د غـرو سـرونـه
د شلمې پیړۍ په لـومړۍ نیمایي کې د باچا خان ملگری خادم محّمد اکبـر خان خپل غـولۍ
د ډیـلي پـه تـخت نـه بـدلـوي
بـاچاهــان به د ډیـلي پـه تـخت نازیږي ............. ما غـریـب لـره دا خپل غولۍ ډیلۍ دی
بـاچاهـان به اوبـه څښي پـه جام د زرو.............. ماغــریـب لـره د خـاورو کـنـډولی دی
پښتون د افغان سره نه شلیدونکي اړیکې لري اوافغان له نسل نه لوړدی.د باچا خان د مشر ځوی غني خان نه واورئ: «پښتون په اصل کې صرف یو نسل نه دی بلکې په حقیقت کې یـو ذهـني کـیـفیت دی.» وگورئ چې پـښتون ته افغان څومره نازولی دی: باچا خان عبدالغفارخان د خپل ولس له خوا په «فخر افغان» ونازول شو، نه په فخـر پښتـون. دغه شان،
خوشحال بابا (۱۶۱۳تر۱۶۸۹)هم د افغان په ننگ راولاړشوی دی، نه د پښتون.
د افـغـان پـه نـنـگ مې و تـړلـه تـوره ........................ ننگیالی د زمانې خوشحال خټک یم
غني خان په یو بل شعـر کې وایي چې پښتون د خپل نوم د گټلـو له لارې د افغان ناموس گټي
پاڅه نـنگیالـیه نن دلـبـر او جانان وگټـه.............. نوم د پښتون وگټه ناموس د افغان وگټـه
د هند فیلسوف شاعر محّمد اقبال(۱۸۷۷-۱۹۳۸) هم په اسیا کې د افغان ملت مقام پیژني
اسیا یک پـیـکـر اب و گِـل است ................................. ملت افـغـان در آن پـیکر دل است
از گـشاد او گـشاد اسـیــا ................................ وز فـســاد او فـســاد اسـیــا

فساد لټول ګټور کار نه دی.مطلب مې دادی چې د پښتون له نظره، افغان او پښتون لکه نوک او وری له یوبله نشي بیلیدلی. د ټول(لر اوبر) افغانستان هر غیر پښتون خور او وروړ چې ځان د زړه له کومې افغان ګڼي، د رښتوني پښتون افغان د سترګو تور او نازولی دی .

## «ستم ملي» د ډاکتر حیدر، ډاکتر غزنوي او استاد مزاري له نظره

ډاکتر رحمت ربي ځیرکیار

د ټول افغان ملت لپاره حتمي ده چې د افغان- ضد تبلیغ یعني د «ملي ستم» په خطرونو باندې پوه شي. ملي ستم د تعصب او کینې نه ډکه نظریه ده چې د شوروي کمونیزم له ډډ نه راوتلې ده، د افغان او افغانستان هویت نشي زغملی او د افغانستان د خاورې بشپړتیا ته په کنګل کې خولې کیږي. د ملي ستم په ځای باید په مشخص ډول صفوي مزاجه دربارخیلو ته ګوته نیول شوې وای، نه پښتون- افغان ملت ته چې د نور غیر- پښتون افغان ملت په شان د بې وسۍ (غربت) د ژوند سره لاس په ګریوان و. ډاکتر محّمد حیدر چې په فرانس کې یې په سیاسي علومو [ اقتصاد؟] کې ډاکتري لاسته راوړې ده، یو وخت دکابل پوهنتون پخوانی استاد او رئیس و، د عدلیې وزیر و، او په امریکا کې یې د «امید» اووه ورځنیزې خپروني سره اوږده قلمي همکاري لرله

Dr. Haidar, “ who earned his Ph.D. in political science [economics?] in France, was once president of Kabul University. A long term contributor to Omaid Weekly, Dr. Haidar is a leading political authority and commentator on Afghanistan.” www.zoominfo.com/p/Mohammad-Haidar/183452949 [May 5, 2015]

داسې بریښي چې د ډاکتر محّمد حیدرپه سر کې د محّمد طاهر بدخشي سیلۍ الوزي؟ دی د محّمد زایي واکمنانو «قبیله ګرایی ها، خاندان پرستی ها...» ته ګوته نیسي. دلته د «قبیله ګرایی ها» ټکی پام وړ دی! د ډاکتر حیدر په شمول، دربار او د دربار حکومت او دولت په پښتوژبه نه، بلکې په فارسی چلیده، او له دې امله پښتو د سیاسي اقتصاد له چاپیریال نه محرومه ساتل شوې وه. په بله وینا پښتو عملا په غټه کچه د روزۍ د ګټلو لوښی ( وسیله) نه وه. د «افغان غول» پرګنو د نورو غیر پښتون ورونو قومونو د پرګنو په شان کړغیړن(بدبخت) ژوند لاره. په«حزب وحدت اسلامی افغانستان» پورې اړیکمن اخبار(وحدت) کاږي: د مسعود – رباني په ستمی دوره کې یو پښتون «ګدایی می کند، ولی سلاح به دست مسعود از میان موتر برمی خیزد و با غرور و افتخار» هماغه بې وزلې پښتون سوالګر ته داسې ګواښ کوي: «به زبان ادم ګدایی کو که دل ماره بد کدی!»- وحدت، شماره ۴۷، سال چهارم. ۱۰/۱۰/ ۱۳۷۴= دسمبر ۳۱، ۱۹۹۵. دغه متن په آینۀ افغانستان کې فوتوکوپي شوی خپور شوی دی: ۵۹ پرله پسې ګڼه = جنوری ۱۹۹۶، جدی ۱۳۷۴، مخونه ۲۵ تر ۳۱

ما ځيرکيار ته يو لمونځ کوونکي او روژه نيونکي افغان د ۱۹۹۵ د مى پـه ۲۳[۲ جوزا ۱۳۷۴ هجرى لمريز] په لاسي خط يو زړه - بريښوونکى ليک راليږلى و: «ښاغلى...د [يوه جهادي تنظيم د مشر] د ګارد قومندان و...او پروفيشنل[پخوانى] پوځى سړى ... دى. ما[ورسره] بيا مرکه وکړه او د سفر په برخه کې چې د پنجشير څخه يې لرلې خپلې يادونې داسې څرګندې کړې: د نجيب د حکومت د ړنګيدو څخه شپږ مياشتې د مخه دی د [ذکرشوي جهادي تنظيم د مشر] سره پنجشير ته د احمد شاه مسعود د ليدو دپاره تللى و. هلته يـو شمير اوسيدونکى[اوسيدونکو] پښتنو غوښتل چې [د ذکرشوي جهادي تنظيم مشر]ته ځنې عرايض وړاندې کړي. [د ذکـرشوي جهادي تنظيم د مشر] خـاص اسـتازي حميـدالله پنجشيـرى چـې د [محمّد]داود خان په زمانه کې د ګمرکات لوى رئيس و هم په دې سفر کې لـه دوى سـره ملګرى و. اوسيدونکو پښتنو خپله عريضه د حميدالله پـنجشيرى په لاس غوښتل چې [د ذکرشوي جهادي تنظيم مشر] ته وړاندې کړي. حميدالله پنجشيري د عريضى محتويات احمد شاه مسعود ته وويل او احمد شاه مسعود هغه ته وويل چې عريضه دې وړاندې نکړي ځکه چې پښتانه نه يوازې د مرستې او ترحم وړ نـدى بلکه هغه څوک چې په پښتو ګړيږى ژبه يې د پرى کولو ده. [د جهادي تنظيم د ذکر شوي مشر د ګارد ذکر شوى کومانـدان او پخواني لوړ رتبه پوځي سړي] چې دا خبره واوريده ډير خپه شو او وروسته تر هغه يې د مسعود څخه کـرکه کوله.... زموږ يو بل ملګرى چې تازه د کابل څخه راغلى داسې نورې په زړه پورې مګر دردونکى اطلاعات يې د ځان سره راوړى دى. هغه اطلاعات او خبرونه د هغه پښتنو له خوا ده ته ويل شوى دى چې د [برهان الدين رباني] د جمعيـت سـره د مجبورى څخه اړيکى او همکاري لـري. د جمعيت او د حکومت په يوه درنه غونډه کې چې يو پښتون مولوي هم ناست و د نورالله عماد چې د جمهور رئيس معاون دى له خولې ويل شوى دى چې دا پښتانه و[و] چې کمونيزم يې په افغانستان کې خپور کړ. په همدى غونډې کى ده بيـا داسې تبصره کړې چې پښتانه د سپيو خصوصيت لرى. دوى د بل کار دپاره نه جوړيږى يوازى دوى د جنګ او ټکولو د پاره ستر استعدادونه لـري. د دې خبرو په اوريدو سره پښتـون مولـوى د ټولني څخه وتلى دى او بيا د کابل څخه هم کلي ته تـللى او ورک شوى دى.»[ د لـيک ليکونکى د شورويانو له يرغل راوروسته د امريکې په متحدو ايـالتونو کې اوسيـږي، او د اوريدو له مخې اوس د کابل د ادارې په سياسي خيرات کې همکاردى؟] - ځيرکيار

د ډاکتر حيدررپه وينا کې د «از دو قرن بدينسو» محاسبه د پام وړ ده. ستميان کله ناکله د دوه سوه (۲۰۰) کلن ستم په ځاى په دوه نيم سوه (۲۵۰) کلن او يا په دوه سوه اويا (۲۷۰) کلن ستم باندې غړيږي. ايا د اقتصاد پوه ډاکتر حيدر په قضاوت کې د پاچا امان الله خان(لس کلنه) واکمني او د حبيب الله کلکاني نهه مياشتنۍ ګډوډي هم شميرل شوې دي. کله چې د غويي (ثور) د رټلي کودتا دريم پړاو په ثور ۱۳۷۱(اپريل ۱۹۹۲) کې بشپړ شو او د پرچميانو همراز کړيـو «کابل ګيرک» مقام وګاټه، نو ناڅاپه اقتصاد پوه ډاکتر محّمد حيدر ته «ژرنـده که د پـلار ده هم پـه وار ده» پښتو متل ور په زړه شو

د ملي ستم په اړه د ډاکتر حيدر له وينا نه، د ډاکتر على رضوى غزنوى وينا ډيره غوڅه ده: «در هيچ حالتى نبايد بناليم زيرا که صرفا از روى تصادف است که مظلوم و بلا کشيده از

**بعضی اقوام** بوده است و ظالم یک اندازه حق کش از **قوم معین و خا ص** دیگر.» - امید، ۱۰۱ پرله پسې ګڼه: ۸ وری ۱۳۷۳= ۲۸ مارچ ۱۹۹۴، مخ ۵. [په اقتباس کې د پنډو تورو له لارې ټینګار زما له خوا زیات شوی دی .] – ځیرکیار. په دغه اقتباس کې داسې برېښي چې له «بعضی اقوام» څخه به د ډاکتر غزنوی مطلب ناپښتون ورونه قومونه وي، او له «قوم معین و خاص» نه به یې مطلب په ترتیب سره پښتانه او محّمدزایان وي.

ډاکتر علی رضوی غزنوی چې په ایران کې یې د فارسي ژبې ډاکتري تر لاس کړې ده، په کابل پوهنتون کې ښووانډ (استاد) و. دی حتما په دی پوهیږي چې په افغانستان کې د احمدشاه بابا د واکمنۍ (۱۷۴۷-۱۷۷۳زییز) له پیل نه نیولې د ۱۹۷۳ پورې، اعلیحضرت محّمد ظاهرشاه له بل هر چا څخه اوږده پاچاهي (۱۹۳۳-۱۹۷۳)کړې وه. دغه شان زه ډاډه یم چې ډاکتر علي رضوي غزنوي به د پخواني پاچا محّمد ظاهر شاه د څلوېښت کلنې پاچاهۍ په اکله کافي شخصي تجربې او علمي کتنې لري. ډاکتر غزنوي چې د سپېڅلي جهاد ناسپېڅلې برې ولیدې، د «قوم معین و خاص» ظاهرشاهي دوره یې د مسعود- رباني او د نورو ډلو له جنګسالارۍ او سرک الطوایفۍ سره داسې پر تله کړه:

«از آن روزگاری که خون انسان عظمت داشت و هیچ مصیبتی کبیر تر از قتل نفس نبود و دست پادشاه [محّمدظاهر شاه] به امضای فیصله محکمه شرعی می لرزید تا امروز که هر مفلوک بیشعورمجهول الهویه ای میتواند به همان سادگی که نسوار می اندازد یا چرس می کشد و هر امیری هر روز صد ها هموطن ناشناخته را به خاک وخون می کشد. این است که بنده می پندارم نوبت ان رسیده است که در انتخاب اعلیحضرت [محّمد ظاهر شاه] برای زعامت افغانستان یک لحظه تردیدی بخود راه ندهم و نه هیچ فردی را در این شرایط بر او ترجیح بدهم.» - آینۀ افغانستان، ۲۹ پرله پسې ګڼه، د سمبر۱۹۹۲ تر جنوری ۱۹۹۳= قوس – جدی ۱۳۷۱لمریز، د مجلې څټ پاڼه. په پورتني اقتباس کې درې (۳) ټکي پام وړ دي:

(۱) د ډاکتر علي رضوي غزنوي په نظر کې د افغانستان پخوانی پاچا محّمد ظاهر شاه (۱۹۱۴تر ۲۰۰۷) د تیر وخت په شان د « قوم معین و خاص» همغه پخوانی سړی دی، خو د مسعود – ربانی په شان ظالم او «حق کش»نه دی. (۲) کیدای شي چې د کابل په ښار کې د افشار او چنداول غمیزې به د ډاکتر غزنوي شعور تخنولی وي او د « قوم معین و خاص» په ځای به د حاکمیت د کیفیت موضوع ته متوجه شوی وي؟ (۳) په کابل کې د مسعود- رباني په مشرتابه د افشار غمیزه پېښه شوې وه، خو د ډاکترعلي رضوي غزنوي په اقتباس کې داسې الفاظ نه وینو چې د مسعود- رباني «قوم معین و خاص» به پکې رټل شوی وي. د ډاکتر غزنوي په دریځ کې دغه ډول بدلون روغ دی ، ځکه چې مسعود- رباني د خپلو کړنو مسولیت لري، نه د هغوی « قوم معین و خاص»! ګوندې ستمیان هم له ډاکتر علي رضوي غزنوي نه زده کړه وکړي.

د ډاکترغـزنـوي د پـورتـنـۍ وينا په څير، د هـزاره قـوم د مشرعـبدالـعلي مـزاري لانديني وينا هـم مهـمه ده. عـبدالعلي (۱۳۲۶-۱۳۷۳لمـريز) په خـپل ولس کې د اعـتـبار خاونـد و او د خپلو پلـويانـو په منځ کي په «اسـتاد مـزاري» او «بـابا مزاري» مشهـور شـوی و. ويـل کيږي چې هـغه په کابل، ګرديـز او خوست کې د خپل عسکري خـدمت په مهال د نور ولسونو د غـربت او محروميـت سـره هـم اشـنا شـوی و. ښايي د دغـه تـريخ واقعيت پـوهې به هـم د مـزاري پـه عدالـتي شعور کې رول لـوبولی وي . د ۱۹۹۳ زييز کال په نيمايي کې، «سخنرانی استاد مزاری رهبر حزب وحدت اسلامی افغانستان بمناسبت سالـګرد تعويض قـدرت به دست مجاهدين» خپـــريـږي ( نـدای وحـدت، ۱۳ ګڼه، جـولای ۱۹۹۳). د حزب وحدت د مشر عبد العلي مزاري دغه وينا هم د هغه چا لپاره د زده کړې وړ ده چې په افغانستان کې د ملي ستم په شتـون معتاد وي او خپل غـلط شعـور پرې ټکـوروي . له مزاري نـه واورئ:

«دلم هيچ نميخواست که بعد از فاجعهٔ افشار[د کابل ښار يوه برخه] صحبت کنم.... مگر در ان وقتی که ميشد مردم ما انتقام را بگيرند از دشمنان.... موضوع ديگر اينکه ما مدت ۲۵۰سال باوری را که داشتيم، قـضيه افـشار و چنداول روشن ميکند. که ايـن باورها هم اشتباه است. ان باور اين است که ما در طول ۲۵۰ سال باور داشتيم که ظلمی را که فقط يـک خـانـدان جاه طلب و يک پديدهٔ کوچـک بالای مردم ما ميکرد تعميم ميداديم و فکر می کرديم همه پشتونـها بالای ما ظلم کرده و ظلم ميکنند. ما در آينده ان وقت به حق و حقوق خود ميرسيم که در کنار فارسی زبان ها باشيم و از فارسی زبان ها دفاع کنيم.... قضيه افشار و چنداول ان باور را هم بطلان کرد، خط بطلان کشيد... اما از دستی که چهارده سال مبارزه کرده و شعار ميدهد که حکومت اسلامی را بر قرار کرده ام. از کسانی که استاد علوم الهی و سياسی و اسلامی است اين عمل انجام ميشود.... و ما امروز بايد اين مسئله را باور کنيم که ايـن جنايت که در چنداول و افشار بوجود آمده اين مسئله را[احمدشاه] مـسعـود به وجود آورده نه همه تاجکها و اين جاست که در باورهای ګذشته خو تجديد نظر بکنيم بايد با واقعيت های جامعه برخورد کنيم و از اين درس بگريم....از روزيکه اينها[مسعود او ربانی] به نـام اسلام به کابـل حاکم شده اند هـشت جـنـګ بـرعـلـيه شـما [هـزاره ګـان] انجام داده است. ميګويد اين ها [هـزاره قـوم] از اولادهـای چنګـيـز خان هستنـد که در باميان جنګ کرده انـد. ۷۰۰[هـفتصد] سال پيش.... اين ادم بيسواد [برهان الدين ربانی] از تاريخ خبر ندارند که شما بومي ترين مردم افغانستان هستيد. قبل از اينکه چنګيز در افغانستان حمله کند شما اينجا بوده ايد و شما عليه چنګيز در باميان مقاومت کرديد. اين ادم بيسواد اول که از تاريخ بی خبر است و باز هـم أنوقت ما از آغای ربانی بازخواست ميکنيم بر فرض اين باور تو راست بود اينها اولاده چنګيـز بود و اولاده چنګيز هم در باميان جنايت کرده. آيا تو کدام منطق اسلامی و الهی داری که هـفت صد سال بعد انتقام را از افشار و چنداول ميګيری و اين با کدام منطق اسلامی وانسانی سازګار است؟ اينجاست که چرا با شما دشمنی دارند و چرا تمام فکرش اينست که شما را از بيـن ببـرد چون اين بـاورتـاريخی را دارنـد روی ايـن بـاور تاريخی شمـا را ميکـشنـد.»-اقـتباس د «ندای

وحدت» جریدې له مخې په «آیینهٔ افغانستان» مجله کې فوتوکوپي شوی دی: ۳۲ پرله پسې ګڼه، جوزا-سرطان ۱۳۷۲زییز= جون-جولای ۱۹۹۳ ، مخونه ۷۱-۷۲
عبدالعلي مزاری زیاتوي چې : «لهذا ما در این جا اشتباه کر ده بودیم عملی یک دسته یی را بنام یک قوم میکشاندیم و از این ها [مطلب یې فارسی ژبي دي؟] حمایت میکردیم اما این اشتباه را مرتکب شدیم. این مسئله بود که در اینجا در رابطه با افشار این باورها را روشن کرد که در اینده ګول این باورها را نخوریم.» - پورتنی وینا
[دلته باید د چنګیز خان په اړه یو څه معلومات وړاندې کړم چې دیارلسمې زییزې پیړۍ جنګیالی واکمن و، د ۱۱۶۰ زییز په شاوخوا کې زیږیدلی و او د ۱۲۲۷ زییز په اګست کې یې ژوند پای ته رسیدلی و. په منګولیا کې ګڼ شمیر قبیلو ژوند کاوه. د مغل اصل نوم «تیموجین» و او د پلار نوم یې «یېسوکئ» و چې د څلویښت زره خیمو (کورنیو) مشر و. د تیموجین مور «هولن» نومیده چې د« ییسوکی» قبیلې له خوا نیول شوې وه او د رواج له مخې دیته اړکړل شوې وه چې د تیموجین د پلار (ییسوکئ) سره واده ومنې. پلار پرې د تیموجین نوم کیښود ځکه چې د تیموجین په نوم په غلیم (دښمن) باندې بریالی شوی و. د یوې پرتمینې (مبارکې، فرخنده) پیښې له مخې د ماشوم نوم غوره کول هغه مهال هلته رواج لاره. له دې امله، یېسوکئ خپل ځوی په تیمو جین ونوماوه. په منګولیا کې د لیکلو نظام نه و موجود. له دې امله د چنګیز(تیموجین) د ژوند په مهال زیات معلومات د بهرنیانو په لاس رامنځته شوي وو. « د منګولیانو پټ تاریخ» په پټ یعنې بینوم دول لیکل شوی و. په زییز ۱۲۰۶ کې تیمو جین د منګولیا غتې برخې ونیولې او ځان یې «چنګیزخان» اعلان کړ. دغه نوم ډېر معنا ګانې لري. یوه معنا یې ده: «بحري واکمن»(اوشیانیک سوورین). چنګیز په ظلم او بې رحمۍ کې نوم ویستلی و، خو د کسبګرو او د روحانینو سره یې غرض نه لاره. لاندې د ۳ پوهاندانو اثار ولولئ.]- څیرکیار
Jean-Paul Raux, Genghis Khan and the Mongol Empire(Thomas & Hudson, 2003); Morris Rossabi, Genghis Khan and the Mongol Empire (University of Washington Press, 2009); Sayed Anwarul Haque Haqqi, Chingiz Khan: The Llife and Legacy of an Empire Builder (Primus Books, 2010).

میر غلام محّمد غبار د چنګیز خان په اړه لیکي چې هغه « بعد از مرگ در حدود پنجصد زن از خود به میراث گذاشت ....با ذکای حیرت انگیزی در سایهٔ شمشیر و سیاست مداری عالم توران را زیر پرچم وحشت افزای خود جمع کرد، این مرد قوی هیکل... و ریش دراز بیسواد بود و جز زبان قبیلهٔ خود دیگر زبانی نمیدانست... او جاه طلب شدید ومسحور تحکیم و فرمان روائی بود و همه چیز را برای خود و خاندان خود و در مرتبه دوم برای مغلستان میخواست... بعد از آنکه دیگر بازوئی قطع ناشدهٔ برای دفاع باقی نماند شهر [بامیان] مسخر شد و غضب و وحشتی که در تاریخ جهان سابقه نداشت در مور د این شهر مشهور تطبیق گردید...خان بزرگ امر کرده بود که بامیان چنان ویران گردد که دیگر برای زیست زنده

جانی مساعد نباشد، نام این ویرانه را هم شهر منحوس ,,ماء و بالیغ ,, گذاشت و خود به قصد غـزنین براه افـتاد.» افغانستان در مسیر تاریخ، لومړی ټوک، ۱۹۶۷، مخونه ۱۸۵-۲۱۳

# ماته يې هيواد دوستي مهمه ده، نه عقيده لکه د موسوي

ډاکتر رحمت ربی ځيرکيار

تاريخ د نن ورځې د ارزښتونو او واقعيتونو په تله کې تلل، د تاريخ سره ناځواني ده ، ذهنګري ده، او بې انصافي ده. که په يو چا باندې د مزدور سرتيري ټاپه وهل روا وګڼو ، نو بايد ديته هم چمتو وو چې لږ تر لږه ځانونه مزدور قلم وا لان حس کړو

ماته څو ورځې وړاندې، يو پوه او خورا سپين ږيري افغان يو کتاب ګوټې (رساله) را ولېږه، د دې هيلې سره چې ويې لولم او څه پرې وليکم. کور دې د هر يوه ليکونکي، خپروونکي او رالېږونکي اباد وي! د کتاب ګوټي په مخپاڼه کې يوازې د ليکوال فاميلي نوم چاپ شوی دی ، نه د هغه ټول نوم. ما داسې وانګيرله چې کتاب به په پټ (مستعار) نوم خپور شوی وي؟ ما لا تر دې ګړی ، په کمپيوټر کې د افغانستان ولايتونه ګز کړل، خو د موسوي ټول نوم مې و نشو ميندلی. له نيکې مرغې، هغه سپين ږيري افغان ډاډ راکړ چې د ليکوال نوم واقعي دی او دی به يې راته لومړی نوم هم را پيدا کړي. هغه را ته نن (۱۹ مي ۲۰۱۵) د استاد موسوی ټول نوم په دې ډول راکړ: سيد حسين موسوی

د ليکوال نوم او د کتاب سرليک يې دی:[سيد حسين] موسوی، **سال ۱۷۴۷ ميلادی بازتولد يک کشور کهن.** خپرونکې: افغاني ټولنه ، امريکا. چاپخونه : اداره ترجمه و تحقيق العلم، پېښور ، ۱۳۸۴تله= اکتوبر ۲۰۰۵. په ۱۱۸ مخونو کې

email: afghanitolana@yahoo.com

په افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد له يرغل (دسمبر۱۹۷۹ ) راهيسې تر نن پورې يو شمير ديومزاجه او اوربکي (متعصب) تاريخ ليکونکي راوتلي دي. زما په اټکل، موسوي دغه ډول اشخاص په «آقای ,چهره نما,,» مخاطبوي. د دغې ډلې په مقابل کې سيد حسين موسوي (شعله ګوند ته منسوب) افغان دی، افغانستان پرې ګران دی، د کاغذ په مخ پرتې توطئې ماتوي، د ستميانو د داستان په ځيرولو پسې يې ملا تړلې ده، او د ځيړنې ځرګند پوليس دی. ښووانـد موسوي په خپل ياد کتاب کې د افغان ملت او هيواد دوستی په نوم د قلم توره ويستلې ده. د خپل هيواد د تاريخ د روغې پوهې لپاره يې اغيزمنه ژبه کارولې او قانع کوونکی لارې نيولې ده. د موسوي د رسالې په هر پره کې (پراګراف) کې د معلوماتو روښان تنظيم، ملي احساس او هيواد دوستی خوندي شوي دي. په لنډه وينا د استاد موسوي رسالې، لـه ۱۹۹۲ راهيسې د متعصبو اشخاصو د تاريخ ليکنې پهلوانی ته يو کلک

انتقـادي او تحليلي مورچل (سنگر) نيولی دی. زه هـر افغان او هـر متعصب ته د ښووانـد موسوی د رسالې د لوستلو سـپارښتـنه کـوم.

استاد موسوي د «آقای ,,چهره نما,,» پام هغه څه ته را اړوي چې په سياسي ژبه کې ورته «کم بـر فاشـيزم» (نيرو گيژ فاشيزم) ويل کيـږي: «آقای ,,چهره نما,,» د ډيورند د رټلي ليکې په دواړو خواو کې ميشتو پښتنوته په سپکه سترگه کسي: «جـز به درد اجيرشدن و جنگيدن و چپاولگری در رکاب لشکـر های مهاجم و غارتگر حکمران منطقه، نمی خوردند.»۴۷مخ ځما ځيرکيار په اند، دغه ډول دريځ چې يو څوک پکې خپل سيال يا مخالف اړخ خبيث او بـدجنس انځور(ترسيم) کړي، د هيټـلـري او استبدادي افکارو نه الهام اخلي. روانډا چې تقريباً د افـريقې په منځ کې يو کوچنی هيواد دی، په ۱۹۹۱ کې يې ۷،۷ مليون وگړي لرل. دغه هيواد په ۱۹۹۴ کې د سل ورځنۍ قوم وژنې سره مخامخ شو: د توتسي قبيلې نيم مليون تر يو مليون انسانانو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړ، دوه سوه زره توتسيان کډوال شول، او د يو نيم لک تر دوه نيم لکه ښځو شخصيت د جنسي تجاوز په واسطه ويجاړ شو. ټـول ټـال، ۷۵٪ تـوتسيان ووژل شول. هـوتو قـبيلې به د خپل ريډيـو له لارې په خپلو ډنډورو کې د توتسي قبيلې غړي ټيټ او بې ارزښته معرفي کول: مار او گونگوټې (قـانغوزک) به يې گڼل. ولې؟ د يـو چا يا يوې ډلې بدجنس او خبيث گڼل يوه روحي عمليه ده چې نـور پکې له انسان نه ټيټ گڼل کيـږي او له دې امله د دې وړتيا نـه لري چې اخلاقي پاملـرنه ورتـه وشـي. هر څـومره چې د مخـالـفو اړخونو کړکيچ کلک (جـدي) وي، هغـومـره يې تـر منځ روحي واټن(فـاصله) غـځيـږي. بـلاخـره دغـه روحـي پـړمختـگ( نـزول) په اخـلاقي محروميت اوښتلـی شـي: محرومې شوې ډلې ته معمولاً په جنايي، شـريره او سپکه (حقيره) سترگه کتل کيـږي، يعنې د عـزت او درنـاوي وړ نه گـڼـل کيـږي. يوه ډله چې دغومره ټيټه او بې عـزته معرفي شي، نو بـيـا يې په مقابل کې تجاوز او تعـذيب اسان او روا گـڼل کيـږي.په سهيلی ختيزه اسايا کې کمبوديا يو هيواد دی چې د وگړو خورا غټه برخه يې( نږدی ۹۵٪) د خمـير قــوم جـوړوي. پاتي ۵۰٪ يې ويتـناميان، ۱٪ چينـايان، او ۴٪ يې نـور قـومـونه دي. خميـر يې رسمي ژبه ده. کله چې خمير روژ(سور خمير) په ۱۹۷۵ کې قدرت ونيو، د کمبوديا نفوس تقريباً ۷،۳ ميليون و. د خمير روژ شاته کمونيستي چيـن او پانگه واله زبرځواکه امريکا ولاړ وو. خميرروژ(سور خمير) په زور سره يو ډول ابتدايي بـزگريز کمونيزم پلی کاوه. د خپل قدرت په څلور کالـونو کې ( ۱۹۷۵تر ۱۹۷۹) خمير روژ، د نږدې دوه مليون هيوادوالو ژونـد پای ته ورساوه چې هغـه مهال نـږدې ۲۵٪ نـفوس کيده. د خميـر روژ يـو منځکوره (متـوسط) مشر کانگ کيک اِيو ويلي وو: « ژوندی ساتل دې گټه نـلـري، وژل دې تـاوان نـلـري.»(يعنې څوک چې د سور خميـر په شان نه وو، ژوند يې هيڅ ارزښت نه لاره). په ويټنام کې د امريکايي قـواو له جنرال ويليم ويسټمورليند نـه واورئ: «شرقيان[ اورينټلز]، د غـربيانو په شان ژوند ته په عـين ډول جگ ارښت نه گوري. په شرق[اورينټ] کې ژونـد ډير دی او ارزان دی.» لـيکـوال جويل بـريـنکلي په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کې کمبــوديا تـه ور ستـون شـوی و او هلـــته يې د خلکو نه هـيريدونکې تريخ روحی زجـر (پوست تروماتيک ستريس ډيس اورډر) ولید چې

راتلونکی نسل به يې هم خوند وځکي. د لاندې کتاب ليکوال برينکلي، له ۲۰۰۶ راهيسې په ستانفورډ پوهنتون کې د ژورناليزم پوهاند دی.]- ځيرکيار
Joel Brinkley, Cambodia’s Curse: A Modern History of the Troubled Land( Public Affairs: Paperback 2012), pp.39-40. For a compact stydy see Bruce Sharp,“Counting Hell: The Death Toll of the Khmer Rouge in Cambodia” [29 May 2015].For general information on genocide see Samuel Trotten and Paul R. Bartrop, Dictionary of Genocide(London: Greenwood Press, 2008). For comparing fascism and communism, read political scientist Vladimir Tisnaneanu, The Devil in History: Communism, Fascism, and some Lessons of the 20th Century. University of California Press, 2014

افغان سيد حسين موسوي هم «آقای ,,چهره نما,,» د بشپړقضاوت په خطر پوهوي - د هغه قضاوت په خطر چې غلي فاشيزم يې چورليز (محور) جوړکړی دی: «آيا ميدانيد که فاشيزم هيتلری قبل از پرداختن به آن جنايات هولناک در جنگ دوم جهانی که وجدان جامعۀ بشری از آن معذب و بهانه ای گرديده در دست صهيونيستهای اسرائيل در کشتار خلق فلسطين، به کدام تبليغات نژادپرستانه يی اشتغال داشتند؟ وقتی هيتلر بعد ازکسب قدرت لا اقل (۶) مليون يهود بی پناه را در کوره های آدم سوزی به آتش کشانيد، می توانی بنويسی که جناب عالی و ساير هم قطاران تان چه نقشه ای برای مليت پشتون در سر داريد که چنين بی باکانه **حکم به ,,درد نخوری,, آنها** می نماييد، نکند نقشه هايی از قبيل ,,رواندا,, و نسل کشی در ميان باشد و مردم افغانستان از آن اطلاع ندارند؟». موسوي زياتوي چې: «در اينکه طبقه حاکمه مليت پشتون غارتگر و چپاولگر بوده هيچ جای شکی وجود ندارد، اما اين مساله تنها منوط به طبقه حاکمه آن مليت نگرديده، خصلت طبقاتی تمام طبقات حاکمه در تمام مليت ها از پشتون، تاجيک ، هزاره، روس، ازبک، جرمن، انگليس، فرانس... غارتگری و چپاولگر يست. ,,آقای محترم,,! اگر کسی بيايد و با تکيه بر غارتگری ها، چپاولگريها، خود فرو شيها، قاچاق بريها و ميهن فروشيهای مشهود و مستند ربانی، مسعود، فهيم، دوستم، مزاری و سايرين؛ بنويسد که بلی، ــ ,,هفت کوه سياه در ميان,,ــ تمام مليت تاجيک و ازبک وهزاره چپاولگر، ميهن فروش و چنان و بهمان است، آيا آن قضاوت را صائب ميدانی و يا چطور؟» (۵۰تر ۵۱مخونه). زما ځيرکيار په اند، د هغه چا نوم په درناوي ياديږي چې سر يې د خيټې د پاسه وي، خو هغه ځوک سپک وي چې سر يې د خيټې لاندې وي!په دې کتاب د استاد سيد حسين موسوي سر د خيټې د پاسه دی.

# د جمهوریتیانو مشکلات، د پرچم ستمِ ملی او افغانستاِن شمالی د ډاکتر شـرق لـه نظره

داکتر محّمد حسن شرق،تاسیس وتخریب اولین جمهوری افغانستان. چاپ سوم کـلیفورنیا، ۲۶ سـرطان ۱۳۸۹= ۲۰۱۰زییز. [دچاپ ټول حقوق د ډاکتر شرق سره خوندي دي.]- ځیرکیار

[د یوې سریزې په ډول به روغه وي چې ولسمشر محّمد داود (۱۹۷۳- ۱۹۷۸) ته، د پخـوانـي پاچا محّمد ظاهر شاه(۱۹۳۳-۱۹۷۳) د استعفا لیک د لاسي نسخې فـوټو کوپۍ ټکي په ټکي رانقل کړم، په دې ډول:« برادرم جلالتماب ریس جمهور
ازموقعیکه خبر جریانات اخیر را شنیـدم تا این دم فکرم متوجه وطن من بود و بـرای آیـنـده آم نگـران بـودم .مگر همین که دریافتم مردم افغانستان بغرض اداره آیندۀ امـور ملی خود از رژیـم جـمهـوریت بااکثریت کامل اسقبال نموده اند به احترام از اراده مردم وطنـم خودم را از سلطـنت افـغـانـستان مستعفی می شمارم و بـدین وسیله از تصمیم خود به شما ابـلاغ میکنم.
درحالیکه آرزوی من سعادت و اعتلای وطن عـزیـز من است خودرا بحیث یک فـرد افـغان زیـر سایه بیرق افغانستان قـرار میدهـم. دعای من اینست که خداوند بزرگ و توانا همواره حامی و مددگار وطن و هموطنان من باشد.» د کتاب په پای کې «ملونه» ولولئ.
په دې پـسې د پخـواني پـاچـا لاسلیک لـیدل کـیـږي. د اصل فـوتـو کـوپـي « دافـغـانستان کـالنـی» د اطـلاعـاتـو او کـلتـور وزارت، د چنګـاښ د ۱۳۵۲-۱۳۵۳ ګـنـه۴۰، د ۶ او ۷مخـونو په منځ کـې خوندي شوې ده. د استعفا نیټه ۲۱ زمری ۱۳۵۲ هجـري لمریـز ښودل شوې ده. دغه نـیټـه د ۱۹۷۳ د اګست د ۱۲ اود هـجري سپوږمیـزکال د ۱۳۹۳ رجـب د ۱۳ نـیټـې سره سمون خوري. په دغه کتاب کې د مـحـمد داود لـه خـوا د افـغـانستان د جمهوریـت د اعلامیـی ( ۲۶ چنګاښ ۱۳۵۲=۱۷جولای ۱۹۷۳) دلاسي خط فـوتوکوپي هم تـقـریبا په یـولسو مخونـو کې خـونـدي شوې ده، او څو ځایه پکې قلمي سمونې شوي دي.]- ځیـرکیـار

حسن شرق د سید داود سره کارکاوه چې د عسکري ډاکتر مرستیال و. د سید داود قصو په شرق اغیز وکړ. د کابل د امنیې کوماندان خواجه نعیم په افغانستان کې د جمهوري نـظام د راوستلـو په مبارزه کې ونیـول شو. لس کالونه وروسته عبدالملک عبدالرحیم زی ( د مالیې وزیر) غوښتل چې په عسکري کودتا سره هیواد جمهوري کړي، خو هغه هم زنداني شو. « با بـقـدرت رسیدن این دودمان[ سردار پاینده خان]خصوصاً به استقرار حکومت امیر عبدالرحمن خان...برای باراول در تاریخ افغانستان بود که وابسته گان سلطنتی (قبیله کوچکې از پشتونها) به حیث طبقه ممتاز کشور به رسمیت شناخته میشوند، و برتری آنها را بر مردم افغانستان تحمیل می کنند. چنانچه دانا و نادان، کاردار و بیکارۀ این قبیله بلااستثـنا ۱۳۳۲ هش[۱۹۵۳زییز] صـاحب معاش مستمری و یا به عبارت دیگر بار دوش مردم خویش شده بودند.» خو په همـدغه

کال کې د هغه مهال د مالیې د وزیر عبدالملک عبدالرحیمزی په وړاندیز او د هغه مهال د صدراعظم [محمّد داود] په«منظوری معاش مستمری قبیله ای سلطنتی و آنانیکه معاش اعزازی داشتند منسوخ و پول آن به توسعهٔ مکاتب رایگان در افغانستان صرف می گردید.» ۳۱۱ مخ

[خو په لویدیزه اروپا کې د سلطنتي کورنیو لګښتونه اوعایدات اوس هم په خوړه پیمانه شته دي، که څه هم د یورپ روانه اقتصادي وضعه مخ په ځوړ ده . لاندې وګورئ( د ۲۰۱۲ کال لپاره)، د اداري علومو او عامه تمویلونو د پوهاند هیرمَن متیجس یا متیس؟ راپور: د برتانیې د سلطنت لګښتونه ۱۶٪ راټیټ شوي دي: له ۳۵ نیم ملیون پونډ نه ۲۹ عشاریه ۷ ملیون پوند ته. په مقابل کې، د ډَچ (هالنډ) د ملکې بیاتریکس او کورنۍ لګښت د عین کال لپاره یو ملیون پونډ زیات و، یعنې: ۳۰ عشاریه ۷ ملیون پونډ ]- ځیرکیار

In his sixth report on the costs of European heads of state, Herman Matthijs, professor of administrative science and public finances at Ghent University, notes the Royal Family had cut spending . Queen Elizabeth II's cost to the taxpayer has fallen as result of austerity measures which have been deeper and faster than reductions to the Dutch monarchy's annual bill at a time when belt-tightening is affecting all of Europe's royal families. Prof Matthijs's research found that the cost of British monarchy, praised as one of the most open about its finances, had been reduced by 16 per cent, falling from £35.5 million to £29.7m over the last year. The £30.7 million Dutch bill for Queen Beatrix and her children, including £14m in personal allowances, is four times the cost of keeping the Spanish royal family, a country that is at heart of the eurozone's debt crisis. Moreover, the burden to taxpayers of the Dutch royal family, Europe's most expensive, is proportionately heavier because the population of the Netherlands is almost a third of the size of Spain's and a mere quarter of Britain's. [Telegraph: 10 May 2015]

محّمد حسن شرق په کابل پوهنتون کې د خپل حق لپاره مبارزه کوله او د غبار او محمودي سره یې لیدل. د هغه مهال د دفاع وزیر سردار محّمد داود ورته امر ورکړ چې په پوهنتون کې دې بیرته شامل شي. ۴۸-۵۱ مخونه

«ببرک خان[کارمل] که به دوران اتحادیه محصلین از جمله محصلین مشهور به شمار نمی آمد، بر وفق دادن این تظاهرات توانستند تا جلب توجه مردم را بسوی خود بصفت یک محصل مخالف حکومت و طرفدار سر سخت داکتر محمودی جلب نماید.»- ۶۳ مخ

د ۱۳۵۲ د چنګاښ د ۲۶نیټې (۱۷ جولای ۱۹۷۳) د کودتا په سهار، د کودتا پلویان په سردار شاه ولی خان پسې لاړل چې له پغمان نه یې کابل ته د ځان سره راولي. شاه ولیخان شکایت وکړ چې هغه ولې دومره وختي کابل ته وړل کیږي؟ یو تن ورته وویل چې په کابل کې کودتا شوې ده، او سردار عبدالولي خان تاسې غوښتلي یاستئ. مارشال شاه ولیخان وویل چې: «ډېر ځلې مې له عبدالولی نه هیله کړې وه چې دغه ډول کار ونکړي.، بلاخره هغه څه چې غوښتل یې، ویې کړل.» یو بل تن ورغبرګه کړه چې: «مارشال صاحب داودخان کودتا کړې ده.» مارشال وویل چې: «بدبخت هیواد کمونستانو ته ورکړ.» ډاکتر عبدالفتاح نجم په ایټالیه کې د پاچا محّمد ظاهر شاه سر ه مل و. د ده په وینا، پاچاچې د داودخان له کودتا نه خبر شو، نجم ته یې وویل: «د روس ځولۍ ته غورځیدل ساده کارو.». دغه ډول تورونه چې په محّمد داود خان لګول شوي وو، د ۱۹۵۳ په اګست (زمری ۱۳۳۲لمریز) کې په ایران کې د هیواد دوست صدراعظم ډاکتر محّمد مصدق هم په بر خه شوي وو: مصدق هم د شورویانو او ایراني کمونستانو (توده یانو) د ملګرتیا ټاپه خوړلې وه.

[دبرتانیې صدراعظم وینسټن چرچل(۱۹۵۱-۱۹۵۵) خپل فوق العاده مخفي ایجنټ د امریکې ولسمشر آیزنهاور( ۱۹۵۳-۱۹۶۳) ته ورلیږلی و چې محّمد مصدق ورته د کمونیزم پلوي معرفي کړي. د کره معلوماتو لپاره ولولئ لاندې کتاب]- ځیرکیار
Stephen Kinzer, All the Shah Men: American Coup and the Roots of Middle East Terror (Wiley; papaerback 2nd ed. January 2008), 288 pages
په ایټالیه کې د افغانستان د سفیر نور احمد اعتمادي په لاس د پاچا محّمد ظاهرشاه لیک محمد داود ته راورسید. په هغه کې پاچا خپله استعفا وړاندې کړې وه، ځکه چې افغانانو جمهوري نظام ته ښه راغلاست ویلی و. خو داسې معلومیږي چې پخپله ډاکتر شرق د شاهي کورنۍ «دلستوڼي مار» ګڼل شوی و. شرق د ځان موضوع ناليدلې ګڼلې وه. ۲۰۷تر ۲۰۹ مخونه.
د ۱۳۵۲لمریز(۱۹۷۳) له کودتا نه وروسته جمهوریت غوښتونکي د درې (۳) متشکلو او مخالفو ډلوسره مخامخ شول: اخوانیان، کینیان(چپیان) او شاه طلبان. سید وحید عبدالله د شا هي کورنۍ سره د ښو اړیکو له امله د بهرنیو چارو د وزارت معین وټاکل شو او د جمهوریت او د پخواني پاچا د کورنۍ د نښلوونکي کړۍ په څیر یې فعالیت کاوه. دغه شان د پرچمیانو سره د ملي انقلاب د ګوند ټکر دیته لار هواره کړه چې حفیظ الله امین د ملي انقلاب د ګوند ځیني غړي د خلک دموکراتیک ګوند ته وروبلي. « شاید به همین جهت بوده باشد که روز ۶[شش] ثور ۱۳۵۷ [اپریل ۱۹۷۸] حفیظ الله امین با دیگر رهبران ح. د. خ.[حزب دموکراتیک خلق] یکجا دستگیر نشده بود....رئیس جمهور[محّمد داود] هم بدون مشوره با کمیته مرکزی به بالا کشیدن عبدالاله به حیث معاون صدراعظم و عبد القدیر بحیث وزیر داخله و تقرر چند وزیر از ریزه خواران و عملهٔ دربار... عملا در اتخاذ تصمیم، کمیته مرکزی را نادیده می گیرند و به سیاست دسته جمعی خط بطلان می کشد.» - ۲۱۵ مخ

په افغانستان کې لومړی ځل جمهوريت راغی، خو امريکې د نوي رژيم سره کومه ځانګړې علاقه څرګنده نکړه. پاکستان او ايران دواړه د امريکې ملګري وو، په افغانستان کې د جمهوري نظام په ضد وو، او په دې لټه کې وو چې د کودتا له لارې نوی جمهوري نظام رانسکور کړي. همهمال شوروي اتحاد د ايران او خليج د هيوادونو سره د محّمد داود خان د اقتصادي او تخنيکي اړيکو له را منځته کولو نه انديښنه لرله ځکه چې دغه هيوادونه د امريکې په عسکري تړلواله کې ولاړ وو. داود د شوروي په بلنه د ۱۹۷۷ په اپريل کې مسکو ته سفروکړ(۱۲-۱۵). بريژنف د سفر په دوهمه ورځ ولسمشر محّمد داود ته وويل چې د افغانستان په شمال کې د ناټو د پکټ د هيوادونو چارپوهان په پروژو لګيا دي او هلته د امپرياليزم لپاره په جاسوسی اخته دي، نو بايد چې له دغو سيمو نه وويستل شي.

ولسمشر داودخان داسې ځواب ورکړ: څه چې د شوروي مشر وويل، هيڅکله د افغانانو لپاره د منلو وړ نه دي. د افغانانو له نظره دغه وينا د افغانستان په داخلي چارو کې څرګنده لاس وهنه ده. ډاکتر حسن شرق وايي چې بريژنف ته د داودخان وينا يې په ياد ده:« موږ به هيڅکله تاسې ته اجازه در نکړو چې په موږ امر[ډيکته] وکړئ. دا چې بهرني چارپوهان په څه ډول او چيرې په کار واچوو، انحصاراً او کاملاً د افغانستان د دولت حق دی. که لازمه وي افغانستان به فقير پاتي شي، خو په خپل عمل او پريکړه کې به خپله خپلواکي وساتي.» ۲۳۳ مخ
د ولسمشر محّمد داود په کابينه کې ټکرونه رامنځته شول. د پلان د وزير علي احمد خُرم د وژنې له امله، ښايي افغان ولسمشرد د دې وس نه لاره چې د چپيانو په ضد کوم اقدام وکړي.د جاپان سفير د علی احمد خُرم په دفتر کې، د افغانستان او جاپان تر منځ د اقتصادي اړيکو د پراختيا په بحث بوخت و چې ناڅاپه يو «عصبانی و پريشان» سړی دفتر ته ور ننوت. خرم جګ شو او دواړه په جګ غږ غږيدل. وزير يې له غاړې ونيو او له کوټې نه دواړه ووتل. له دفتر نه يو څو قدمونه وړاندې د يو څو ډزو غږ جګ شو. کله چې سفير له دفتر نه بهر شو، «نيم مړ» وزير يې په دهليز کې وليد، خو وژونکی تښتيدلی و. د جاپان وزير د وحيد عبدالله سره د بهرنيو چارو په وزارت کې وکتل. وحيد عبدالله ورته د څو تنو عکسونه وروښودل چې که وژونکی پکې وپيژني. سفير وايي چې د وژونکي مونه (څيره) هيڅکله هيرولی نشي، خو په مونو کې يې د وژونکي مونه ونه ليدله. د جاپان د سفير له وينا نه داسې بريښي چې داخله وزارت د خرم اصلي وژونکی نه و نيولي. شرق ليکي چې: «چنانچه مرجان نامی که بنام اخوانی بحيث قاتل وزير پلان حبس شده بود بعد از هفت ثور [۱۳۵۷=۲۷ اَپريل ۱۹۷۸] او را بحيث رفيق حزبی ازحبس رها کردند.» - ۲۳۷ مخ.

[کله کله تاريخ تکراريږي! لکه څنګه چې په ۱۹ پيړۍ کې انګريز جنرال رابرټس د امير محّمد يعقوب خان لپاره په افغانستان بريد وکړ او د ګندومک په تړون کې يې ښکيل کړ(مې ۱۸۷۹)، همغسې شوروپانو سل (۱۰۰) کالونه وروسته (۶ جدی ۱۳۵۸= ۲۷ دسمبر ۱۹۷۹) د ببرک کارمل لپاره په افغانستان ورودانګل. په دواړو عسکري او سياسي صحنو کې د

افغانستان عسکري او بهرنی سیاست په ترتیب سره د برتانویانو او شورویانو په مشوره پورې تړل شوی و.]- ځیرکیار

شورویان په دې پوه شول چې افغان ملت له خپلې خپلواکۍ نه لاس نه اخلي. نو هغه وو چې د ستم ملي فتنې ته یې پناه ویوړه. دغه فتنه د «جبهه ملی پدروطن» په نوم راتوږل شوې وه، خو څو ځلې یې په نوم کې بدلون راغی: جبهه ملی پدروطن په «جبهه ملی»، «کمیسیون مطالعه صلح»، او «جبهه صلح» واوښته خو کومه ګټه یې ونکړه. بیایې روحانیونو او دیني علماو ته مخ وروااړاوه. خو دغه دسیسې چې بې اثره پاتې شوې، نو بیا یې په تفرقه لاس پورې کړ. تر څو چې قومونه او مذهبونه یې نه وي را پارولي، د «رفیقانو» لپاره ناشونې وه چې ارام خوب وکړي. د ملي یووالي او دیني یووالي په ځای یې محلی خودمختارۍ ته پناه ویوړه ډاکتر نجیب او سلیمان لایق د پښتنو استازولي کوله. نجم الدین کاویانی او فرید احمد مزدک د فارسی ژبو استازي وو. عبدالرشید دوستم «عضو کمیته مرکزی ح. د. خ. ا. برای ازبکها» ، او سلطانعلی کشتمند د هزاره ګانو په ښیګڼه کې لګیا و.[ یعنې «طبقه» په قومونوکې شړه شوې وه.]- ځیرکیار. «رفقای موصوف» څرګند رسمي تشکیلات ( وزارت اقوام و قبائل، وزارت امور ملیتها و بعداً تشکیل حکومت های جداګانه برای ولایات شمال...» رامنځته کړل او په دې ډول یې ژبنیو، سیمه یزو، او مذهبي شخړو ته لار پرانیستله [د شرایطو د ګړندي بدلون له امله، شورویان او د هغوی پرچمي مریدان په فکري انارشۍ اخته شوي وو]- ځیرکیار. شورویانو به ورته ویل چې «ملیتونه د قومونو او قبائلو پرمختلی» پړاو دی او پښتانه په ملیت کې نه شمیرل کیږي. خو د «ملیتونو» توپیر نه په ژبه ولاړ و، نه په نژاد او نه په جغرافیایي موقیعیت! د بیلګې په ډول: پشیانو به چې پښتو ویله، هغوی به یې مجبوروول چې ځانونه پشیان ولیکي، نه پښتون. خو پښتنو به چې پښتو هیره کړې وه او فارسي به یې ویله، باید ځانونه تاجک ملیت ته منسوب وګڼي. فارسي ژبي ازبکان او ترکمنان باید ځانونه ازبک او ترکمن ملیت ومني، نه د ژبې له مخې تاجک ملیت! ازبکانو او ترکمنانو غو ښتل چې په پښتو یا فارسي تعلیم وکړي، نه په ازبکي او ترکمني ژبو. ډاکتر حسن شرق د هغه مهال د ښوونې او روزنې له وزیر نه پوښتنه کړې وه وه چې د دغه مشکل علت څه دی؟ هغه ورته وویل چې د ترکمني او ازبکي ژبو کتابونه د شوروي اتحاد په ترکمنستان کې چاپ شوي دي. پلرونه یې ویره لري چې زوزات به یې شوروي کمونستان شي: « از آنرو ګفتند ما از زبان مادری می ګذریم، اما از دین پدری نه.» ۳۰۳-۳۰۹ مخونه

[په ۱۹۱۷ کې د لینن په مشرۍ په روسیه کې بلشویک/کمونیستي نظام د پخوانی تزاري نظام ځای ونیو. د شوروي اتحاد د بهرنیو استخبارتود دریمې نړۍ د څانګې د ارشیف منتظم میتروخین لیکلی دي، کله چې بلشویک/کمیونیستي واکمني په مرکزي اسیا کې برلاسي شوه، ګڼ شمیر(اووه نیم لکه = ۷۵۰۰۰۰) تاجکانو، ازبکانو، ترکمنانو، او کرغیزیانو افغانستان ته پناه ویوړه(وسیلي میتروخین، کې. جي. بي. په افغانستان کې. واشنګټن، ډي.سي.۲۰۰۲.تجدید ۲۰۰۹، په انګریزي ژبه: ۱۷ مخ). ځما ځیرکیار په

نـري اتکـل، د منځنۍ اسیا د اووه نـیم لکـه کـډوالانـو  پـه منـځ کې بـه لږ تـر لـږه پنځـه سـوه (۵۰۰) کمـونـستان هـم ځـای په ځـای شـوي وو چې پـه راتـلـونکـی افـغـانـستان کې کمونیـستـان او مـخبـران وروزي او د شـوروی روسيې/شـوروي اتحاد په ګټـه یې استـعـمال اواستخدام کړي. ډاکتـر محّمد حسن شرق هـم  پـه  خپل کتاب کې دغـه مـوضوع  پـه لانــدې ډول راسپـړلـې ده]- ځيرکيار

«در افغانستان ستم ملی، شعار تازه ی نیست که در تاریخ ادبیات  آن، برای بار اول با سـرازیر شدن تاجیک ها و ازبک های مهاجر به افغانستان (با هجوم کمونیست ها به کشور شان) از جانب بعضی از آنها که وابسته و یـا گماشتـۀ **ستـون پنج شـوروی بـودنـد،** میان درهـای بـسته زمزمه میشد، تا اینکه سال های بعد سلاله آنها در بطن ح.د.خ. [حزب دموکراتیک خلق] لانه می کنند و بـا اینکه رهبران ح.د.خ.  بنا بر تمایل شوروي مشوق و حامی ستمی هـا بودنـد، یکی دو نـفـر از بدخشی ها از دامن حزب می لغزند و علناً  پایه واساس جمعیت ستمی ها را که دشمنی با پشتون ها(طبقه حاکمه ستمکار) شعار آنها بود، می گذارند.» شرق زياتوي چې: «در آن روزها پخش مفکوره ای ستمی،آنـهم از بـدخشان و انشعاب آنها از ح.د.خ. سؤال بر انگیـرشده بود. چرا که به زمامداری اخلاف سردارپاینده خان، **بالا ترین مقامات دولتی بعد از خاندان سلطنتی متعلـق به بـدخشانی ها بود.** زیرا خانم امیر عبد الرحمان خان[۱۹۰۱-۱۸۸۰]  مادر امیر حبیب الله خان شهید و **مادرکلان اعلحیضرت امان الله خان از بـدخشان، و خـانـۀ دوم محمد ظاهرشاه** [بادشـاه ۱۹۳۳ تر ۱۹۷۳] **هم بـدخشان شده بود** بناء بـدخشانی ها بـرخلاف اقـوام دیگر با ایـن خانـدان سـرجنگ نداشتـند و پشتون های فـراری هم در سرزمین بـدخشان کمتر دیده مـی شد، ولـی **بـاز هم بدخشی ها ستمکش و پشتون ها ستمگر گفته می شد.»** په دغـه اړونـد کې، ډاکتـرحسـن شـرق خپلې یـوې پخې پوښتنې ته  په احتیاط سـره داسې جـواب ویـلی دی: « آیـا ستـمی هـای بـدخشان سرنخی با دربار داشتـند؟» البته د دواړو خواو د رابطې په اړه « سند و مدرکی در دست نیست.» خو د ستمیانو مفکورې که له یوې خوا د شوروي اتحاد  د تګلارې سره  سمون لاره ( چې په سیمه کې د ګاونډیو  هیوادونـو پـه قومي تـفـرقـه او تجزیه ولاړه وه)، نو له بلې خوا **د هغـوی مـفـکـوره د سلطنت لپاره هـم ګټـوره وه:** ځکه د پښتنو سره د ستمیانو ټکر، پښتانه د سلطنت سره ملاتړ ته هڅوي: «زیـرا سلطنتی ها تصور آنـرا داشتند که مفکورۀ ستمی ها خواهی نخواهی پشتون ها را به طرفـداری از سلطنت برمی انگیـزند. بنأ تـرویج مفکوروی آنها را تحمل می کـردنـد و فعـالـیت های تخریبی آنها را نـادیده مـی گـرفـتـنـد.» ۳۱۰-۳۱۱ مخونه

د سلطنتي خاندان له اړتیا نه اضافه مقامونه به یې هغه چاتـه ورسپارل چې د دربـار په رمـز بـه ښـه پوهیدل، نه د ولس په اړتیاو. نورو فکتورونو ( قوم، قبيلې، لسان، سيمې، مذهب) د اشخاصو په  لوړو دولتي مقامونو کې د مقررولو لپاره ارزښت نه لاره. د مثال په ډول، « ښایي له  همدې امله به د **بدخشان علی محّمد خان** «یکی از دانسته ترین  وزرای افغانستان» و  چې د امان الله له پير نه د محّمد ظاهر شاه د سلطنت د پای پورې **پنځوس (۵۰) کاله د معارف، خارجه چارو او دربار وزير او د صدراعظم مرستال و.** که  یوې سیمې ته منسوب وزیـر د همغې سیمې د پرمختګ سبب کیدلی شوای، نو باید  چې بدخشان د افغانستان تر ټولو  سیمو

پـرمختـللي سيمه واى. **د بدخشان يو بل نيک شخصيت حافظ نـورمحّمد خان** نوميده چې « انسان باخدا و وطـن دوست بود و **تقريباَ چهل سال سرمنشی د فتر پادشاه سابق محمد ظاهر بود.»** [زما سره د ډاکتر شـرق ټـلفوني مرکه: ۱۷ می ۲۰۱۵=۲۷ ثور ۱۳۹۴]- ځيرکيار

د افغانستان د خلکو «بشپړ اکثريت» په غير له شاهي کورنۍ او کابل ښاريانو نه «از مزايـای علم ودانش و انکشاف کشور بی بهره مانده بودند.» ډاکتـرشـرق خپله ادعا په لاندې شميـرنو غـښتلي کړې ده:« «به استـناد احصائيه مستند تا سال ۱۳۳۲ هجری شمسی **[۱۹۵۳م] مجموعـاَ از فاکولته طب افغانستان ۱۷۲ نفر فارغ التحصيل شده بود** که از آنجمله **هفـت نفـر** (نور محّمد ځلمی از مزار شريف، نيک محّمد عـزيزی از هرات، عبد الله فراهی و محّمد حسن شرق از فـراه، آدم درمل از قندهار، عبدالصمد دانش ازغزنـی، محّمد نعيم ننګرهاری از ننګرهار) **متعلق به سراسر افغانستان و متباقی کابل بودند.** در فاکولته حقوق ؤ ادبيات و ساينس در همن سال ۷۵ فيصد کابلی و ۲۵ فيصد سهم فرزندان همه ولايات کشور بود.» دغه «تحصيلي فـقـر»افغانانو ته ښئ چې د افغانستان ټول خلک «بدون تبعيض زير ستم و بی توجوهی قرار داشتند، نه طبقه و يا قبيلهٔ خاصی، نه سمت مشخص، و نه طرف معينی.» [د افغانستان مهمه ستراتيجيک برخه د ګندمک تړون (۱۸۷۹) او د ډيورنډ تړون (۱۸۹۳) وخوړه، د افغانستان اقتصادی پرمختګ ته يې کلک پا ټک واچاوه، او پښتنو ته يې غټ تاوان ور ساوه. په ۱۹۱۹ کې د لَـر افـغـانستان( پښتونستان) پښتنـو دبرتانيې وسله والو قـواو ته کلکې او پرله پسې ماتې ورکړې. له دې امله مغلوب اړخ(انګريزانو) د ډزبـنـد هيله وکړه. پـه مغلوب اړخ بانـدې بـايـد د غالـب اړخ( د وزيرستان د نـوميالی ولس) شـرايط منل شوي واى، نه سـر چپه! د ډز بند په خبرو کې بايد د وزيرستان دوه درې تنه ولسي جنرالانو هم ګډون لرلای! امان الله خان او محّمد نـادر خان بايد د وزيرسـتـان د کـوماندانانو سـره په ګډه د ډزبند شرايـط لـيکـلـی وای او په شريکه يـې مغلوب اړخ (انګريزانو)ته وړاندې کړي واى.خو له بدې مرغې د کابل احـساساتي ادارې، د وزيـرستان د ولـسي جنرال يار محّمد خان وزيـري په ويـنا،«دريـم نـاولـی

تـړون» خـپل ويـاړ وګـانـه. دوه لـومړی ناولی تړونونه د ګندمک او ډيـورنـډ وو]- ځيرکيار «مقابلتاَ تجزيه مناطق پشتون نشين توسط خط ديورند و سرکوبی بی رحمانه و تار و مار کردن واسکان اجباری آنها در مناطق دور دست، چه در زمان امير عبد الرحمن خان و چه به دوران زعامت اين سلاله نکاتی مشهودی است که **از قساوت و بيرحمی زمامدارن گفته شده به پشتونـها شهادت می دهد. نه آنچه ستمی ها تبليغ و ترويج ميکنند**....ترويج کلمه شمال و جنوب، تأسيس وزارت مليت ها په «خلقی های سرتـنبه» اعتبار نشو کولی: « اما پل پای خلقی های مخالف خاد در تفرقه های قومی، نژادی، مذهبی، سمتی ولسانی ميان کارمندان وزارت امنيت دولتی، وزارت خارجه، وزارت اقوام و قبائل، وزارت مليتها، جبهه ملی، شوراهای مرکزی مليت ها که بعضا به تفرقه ها ذيدخل بودند ديده نمی شد.» په «غټ ګمان» سره، شوروپانو په «سرتمبه خلکيانو» د دې باور نه لاره چې «تا به اهداف دراز مدت شوروی در افغانستان آنها را درپهلوی رفقای خاد با خود داشته باشند.» ډاکتر شرق کاږي چې: «بگمان اغلب تسليح و تمويل اقوام به مقابل يکديگر، ائتلاف ح.د.خ.[حزب دموکراتيک خلق] باستمی ها از افتخارات فـرمانروايی داکتر نجيب الله ست.» حسن شرق زياتوي چې« در جرگه وسيع

مردم هزاره به کابل که برای خود مختاری هزاره جات دائر شده بود، اشتراک نموده بودم.... سلیمان لایق ضمن خطابهٔ غرای خویش موافقه دولت را به تأسیس حکومت خود مختار مردم هزاره جات اعلان و خواهش نمود تابرادران هزاره بدخواهان طرح مترقی یعنی مجاهدین را ازهزاره جات اخراج نمایند.» ۳۱۴-۳۲۲ مخونه

۱۹۸۸ اپریل =۲۷ غویی/ ثور۱۳۶۷ : د جشن په ورځ په کابل کې بم و چاودهډاکترشرق دوه ورک نومه اتلان را پېژني: جنرال خلیل چې د خاد( د دولتي امنیت د خدماتو یعني استخباراتو) مرستیال، د ګوند د مرکزي کمیټې غړی او په اردو کې د کشف رئیس و، اوډګروال تاج الدین چې د اردو د اوپراسیون رئیس و. دواړه د شوروي جنرالانو او د خلک د ګوند د پرچم د څانګې د مشرانو اعتمادی ملګري وو. خو دواړو به د شوروي پوځونو د بریدونو اطلاع مخکې له مخکې د مجاهدینو سره شریکوله او په دې ډول به یې د غلیم بریدونه بې اثره کول. د هغوی د هیواد دوستی اطلاع «از جانبی بدکرداری بدسرشتی وطن نداشته ای بی ایمان (ازجمعیت اسلامی) به اطلاع شوروی ها رسانده می شود. در نتیجه حکم محکمه انقلابی به اعدام آنها و چهار نفر همکار اوشان از ضابطان جوان و بهترین سرسپرده گان راه آزادی بجرم خیانت بوطن و همکاری به اشرار صادر میشود و در یکی از شب های تابستان ۱۳۶۳ [۱۹۸۴] همه را چشم بسته تیرباران می کنند.» ۳۳۰ مخ[ ښایی جنرال خلیل د مُلا عبدالحمید غزنوی لمسی و چې په ۱۹۱۹ کې یې د انګریزانو په ضد پاڅون کې برخه اخیستې وه. میر غلام محّمدغبار، افغانستان در مسیر تاریخ، لومړی ټوک، ۷۶۳ مخ.] – څیرکیار

د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وروستني وزیر ایدوارد شیوارنادزی(۱۹۸۵-۱۹۹۱) د خپلو افغانی ملګرو ولسمشرډاکتر نجیب او صدراعظم سلطان علی کشتمند سره د همدردۍ [او د راتلونکې روسیې د امنیت] لپاره د شمالي او سهیلی افغانستان پلان رامنځته کړ او «عملاً» په کابل کې د افغانستان له مرکزي حکومت نه نهه ولایتونه د افغانستان په شمالي حکومت کې تنظیم شول چې مرکز یې مزارشریف و. نجیب الله مسیرچې د خلکو د دموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې غړی و، د شمالی افغانستان د صدراعظم د کفیل په څیر وټاکل شو، د وزیرانو شپاړس کسیزه کابینه جوړه شوه او په مزارشریف کې یې کار پیل کړ.«به شوروی ها که هیچ امیدی برای بقای حکومت کابل ...نمانده بود، از ترس اینکه مبادا» په پېښور او ایران کې فعال اسلامي تنظیمونه غبرګ شي، نو له دغه ډاره یې روغه وګڼله چې له افغانستان نه په بشپړ ډول د خپلو قواو په ویستلو سره دې د کابل حکومت مزارشریف ته ولیږدول شي. له دې لارې به د افغانستان په سهیل کې پاتې ولایتونه جهادي تنظیمون ته ورسیږي، او په دې ډول به افغانستان د کوریا، ویټنام، یمن او المان په برخه لیک اخته شي. هممهال شورویانو خپلو افغانی دوستانو ته سپارښتنه کوله چې له افغانستان نه بهر او دننه دې، د ناپیلو افغانانو سره د منځمهالي حکومت په رامنځته کولو خبرې و شي – تر هغه چې د انتخاباباتو له له لارې «حکومت مردمی» په پښو ودریږي. ۳۴۲-۳۴۳ مخونه

[ د ټول افغان ملت لپاره به ګټوره دا وای چې مجاهدينو د ځان په ځای يو ناپيپلی، پوه او په افغانستان او نړۍ کې په نيک نوم پيژندل شوی شخصيت (پخوانی پاچا محمّد ظاهر شاه، ډاکتر محمّد يوسف، ډاکتر عبدالصمد حامد، ډاکتر علی احمد پوپل، سيد شمس الدين مجروح، ... عبدالرحمن پژواک) د يوې منځمهاله دورې لپاره د ملګرو ملتونو په همکارۍ غوره کړی وای! ]- ځيرکيار

# د پښتو ژبې په وړاندې ستم اود ژوند لپاره يې ژب پلان

## ډاکتر رحمت ربی ځيرکيار، کليفورنيا، امريکه

## ۸ جون ۲۰۱۵\۱۸ غبرګولی ۱۳۹۴

| |
|---|
| د ۲۰۱۵ د جون په ۱۵،کندهار پوهنتون – پاچاخان علمي څېړنيز مرکز د پښتو ژبې د بقا او فنا په اړه غونډه پلان کړې ده چې د لر او بر پوهان به پکې برخه واخلي. دا چې ما د تخنيکي مشکلاتو له امله ونشو کولی په دغه غونډه کې ګډون وکړم، خپله لاندينی ليکنه مې ور وليږله. هيله ده چې لوستونکي به زما د پلان په اړه خپل نظر خپور کړي اوماته به يې هم يې زما د ايميل له لارې راوليږي. په درناوي، ځيرکيار |

هيله ده چې په کندهار پوهنتون کې ستاسې علمي غونډه (۱۵ جون ۲۰۱۵) کوټلې نتيجه ورکړي. زه د ملي ژبې پښتو د ژوند او مړيني په اړه علمي بحث ته ښه راغلاست وايم، او ستاسې د هيلې له مخې خپل نظر يو ځل بيا وړاندې کوم، د يو څو نوو وړانديزونو سره .هيله ده چې زما ليکنه به د غونډې ګډون کوونکو ته واورول شي او په چارپوهانو به وويشل شي، او له ۳ تر ۴ نيمو بجو دې پرې چارپوهان د يو ګروپ په ډول بحث وکړي، او په څه کم پنځه بجو دې غونډې ته د بحث نتيجه واورول شي

کـه مو په ياد وي، ما د ۲۰۱۳ کال په نومبر کې په کندهار پوهنتون کې د کنفرانس د دوهمې ورځ په دوهمه نيمايي کې ستاسې د اوسني کنفرانس د موضوع په اړه خپل نظر ښکاره کړی و. ما چې هلته د کابل دعلومو اکاډيمۍ له يو غړي نه د ايميل هيله وکړه، هغه يو ځوان ته وويل چې «دغه شی» يعنې ايميل ما ته راکړي.خو ايميل هم ناڅله وخوت، او زه له تماس نه محروم پاتې شوم! ګمان کوم چې د علومو اکاډيمۍ به کرسۍ ، کتابونه او ميزونه لرل خو له کمپيوټر نه بـه محروم وو. نو څه بايد وشي؟

په **لومړي ګام کې** باید په کابل کې د علومو اکاډيمي لږ تر لږه دوه کمپيوټرونه ولري او د دغې اکاډمۍ مشرانوغړو ته دې د کمپيوټر د استعمالولو چل ور وښودل شي. له هريو منلي ورور ډاکټر فاروق اعظم او ښووانډ سعدالدين شپون نه هيله کوم چې د علومو اکاډيمۍ مشرانو ته د ايميل د ليږلو، بيرته کولو ، چاپولو او سکايپ چل وروښئ

په **دوهم ګام کې** بايد د علومو اکاډيمي يو تـلپاتی غړی ولري چې په انګريزي ژبه بر لاسی وی او د اړوندو بين المللي موسسو سره راشه درشه کولی شي. ښووانډ شپون دغه ظرفيت لري ځکه هم ليکوال دی او هم په انګريزي پوهيږي

په **دريم ګام** کې باید د ملګرو ملتونو د يونيسکو د يو ځانګړي پروګرام سره تماس ونيول شي، په لاندې نوم

UNESCO Guidelines on Language Policies: A Tool for Language Assessment and Planning

په **څلورم ګام** کې باید د مشورې لپاره د هند د ژبو د مرکزي موسسې سره تماس ونيول شي، په دې نوم

Central Institute of Indian Languages

د ژبوتماسونه ديرغل اونيواک (اشغال)، د کډوالتيا، د نويوملتونو د جوړولو، ...او تجارت له لارې رامنځته کيږی. دلته يوه پوښتنه اهميت لري:ژبه کوم مشکلات لري؟ په يوه سياسي واحدکی د ګډی ژبی نشتوالی، دليکلود نظام نشتوالی ياکموالی، د تخنيکی اوعلمی لغتونونشتوالی...د درسي کتابونونشتوالی ياکموالی. هرګڼ ژبي سياسی واحد ته چی يوه ياڅوژبې پکی قوي وي اونورې پکی کمزورې وي، **دژبنيومشکلاتوسيمه** ويل کيږی. دغه ډول سيمه ژب پلان ته کلکه اړتيالري. ژب پلان په ملی سويه دژبی د پرابلمونو(مشکلاتو) د حل کولو«منظمې پالنې» ته ويل کيږی. په بله وينا، ژب پلان په ملی سويه د ژبی د مشکلاتومنظم حکومتی فعاليت ته وايي

**ژب پلان دوه برخی لري:** لومړئ برخه يی د شان يامقام ژب پلان نوميږی چی په ژب سياست راڅرخی، لکه د ژبی توزيع يا ويش په بيلا بيلوقلمرونوکی، مثلاً د ژبې رسمي مقام په حکومت کی، په تجارت، په زده کړه اوپوهنه کی، او دروغتيا په چاروکی. دوهمه برخه يی جسمي پلان نوميږی چی دژب سياست په پلی کولو(اجرأ) را څرخی. په جسمی پلان کی دژبی جسمی شتون راځی، لکه دګرامر، املا، سيندونو(قاموسونو) د درسی کتابونو....اودليکلوياخطی نظام توليد. په بله وينا، د شان يا مقام پلان ته رسمی پريکړې هم ويلی شو، اوجسمی پلان ته درسمی پريکړی پلی کول ويلی شوچی دژبی په مشخصوجسمي موادوراتاويږي. د يوې ژبې د مقام پلان ګټه نلري، خوداچی عملی شی يانی په جسمی پلان واوړي. بې له مقام پلان يا ژب سياست يارسمي پريکړې نه، جسمي پلان ډيرلږامکان لري چی ګټورشي.

په يو هيوادکی ديوی ژبې دغښتلتيا(تـقـويې) لپاره مهمه ده چی څومره وګړي پرې غږيږي، په

---

- Status planning

کومه کچه د ملي احساس اوملي تړون مرستندوی ده، اوپه ملي تاريخي ځانګړتيا(پيژاند) کی ځومره رول لوبولی شي، يانی ولس ورته د خپل مال په سترګه کسي که د بل چامال يی ګڼي.
ژب پلان لانديني‌وسريزوفعاليتونو ته اړتيالری
١ – غونډی(کنفرانسونه)
٢- ژب ټولنيزې سروې ګانې
٣- ازمايښتي پروژې (پايلټ پراجيکټز)
۴ - حکومتی کميسون
۵ - خپلواک کميسون
۶ – دژبی په اړوندکی دبين المللی کنفرانسونوپريکړې
ديوې ژبې د مقامي پلان کولولپاره لانديني ټولنيزقلمرونه ارزښت لري:
حکومت، پارلمان(ولسی جرګه اومشرانوجرګه)، محکمې، اداره، دروغتياچارې، دښوونې اوپوهنې وزارتونه، تجارت، او وګړيزې رسانې (ماس ميډيا). په يوهيواد کی چی **دوه ياڅو رسمي ژبې منې، ډيرارت اودقيق ژب پلان ته اړتياده.** په ژب پلان کی دزده کړې اولوړوپوهنوقلمرو زښت ډيراهميت لري، ځکه دلته دنوي او راتلونکي نسل په زړه اوفکر کی د ملي تړون زړي کرل کيدلی شي. دزده کړواو لوړو پوهنوپه وزارتونوکی غتې مفکورې په ورځني ژبني سلوک اوورځني متقابل احترام اوړي چی په خپل وارسره ملي تړون ته لار اواروي. هغه ژب پلان چی لاندنيوحالتونوته ځواب ووايی، دبرياليتوب تومنه لري:

**الف: عمومی معلومات:**
١ – دوګړوشمير
٢ – داکثريت( له نيمايي نه زيات ويونکو) ژبه
٣ – داقليت ژبه
**ب : د ژبی قانوني مقام:**
١ – رسمي ژبې
٢ – نورې ژبې چی مقام يی ټاکل شوی وي
٣ – هغه متن چی دژبواستعمال ټاکی(داساسی قانون ماده يامادې، د ژبو قانون، د محکمې پريکړه/پريکړې).
**پ: په قانون سازۍ کی دژبواستعمال:**
١ – دژبواستعمال په پارلمان کی(وينا، ليکنه)
٢ – د قوانينوپه ليکلوکی دژبواستعمال
٣ – د قانون په اعلامولوکی دژبواستعمال

- Corpus planning
- Socialinguistic surveys
- Pilot projects

۴ – هغه متن چې دژبو استعمال ټاکی.

**ت : په قضایی نظام کی دژبواستعمال:**

۱ – مجازژبی

۲ – هغه ژبی چې معمولاً استعمالیږي

۳ – دقضاوت(پریکړې) ژبې

۴ – هغه متن چې دژبواستعمال ټاکي

**ټ: په اداره کی دژبواستعمال:**

۱ – داجرایي ژبې

۲ – ولایتي اومحلي حکومتونو ته دمرکزي اجرایي د رسمي مکتوبونوژبې

۳ – بهرنیوهیوادونوته دمرکزی حکومت درسمي مکتوبونوژبې

۴ – هغه ژبې چې په ایالتي اومحلي اداروکي استعمالیږي

۵ – دانتخاباتي مبارزودغونډوژبې

۶ – هغه متن چې دژبواستعمال ټاکي

**ث: دزده کړی اوپوهنې ژبې**

۱ – دوړکتون اوروزنتون ژبې

۲ – دښوونځي ژبې(لومړنی، دوهمی، لیسه)

۳ – دلوړوزده کړو(پوهنتونونو ژبې)

۴ – دغټانولپاره دلیک لوست دکورسونوژبې

۵ – هغه ژبې چې په ښوونځي(لومړنی، دوهمی اولیسه کی) اوپوهنځي کی زده کیږي باید وښودل شي چې په کومه موضوع کی حتمي دي که اختیاري.

۶ – هغه متن چې دژبواستعمال ټاکي

**ج: په تجارت کی دژبواستعمال:**

۱ – هغه ژبې چې په تجارتي اعلانوکی کارول کیږي

۲ – هغه ژبې چې په اداري اطلاعیوااعلامیوکی کارول کیږی

۳ – هغه ژبې چې داموالوپه نومونې کی کارول کیږي

۴ – هغه ژبې چې دمقرراتواودزده کړې لارښودونه پرې لیکل شوې وي

۵ – هغـــــه ژبې چې په تجارتي چاپ پاڼو کی کارول کیږي

۶ – هغـــه متن چې دژبواستعـمال ټاکي

**چ: په مطبوعاتوکی دژبواستعمال:**

---

- په کوم ټولګی اوپه کوم مضمون کی

- Labelling
- Policy and instruction manual
- Printed matter

۱ – هغه ژبې چې په چاپي خپرونوکی کارول کیږي(دغتومهالیزودنومونولیست باید مل شی اوپه هغه کی وښودل شی چې څوځلی اوپه څومره شمیرخپریږی.)
۲ – هغه ژبې چې په راډیوکی کارول کیږی(په اونۍ کې څو ګینټي)
۳ – هغه ژبې چې په تلویزیون کی کارول کیږي(هره اونۍ کې څوګینټی)
۴ – هغه متن چې دژبو استعمال ټاکي

**ح: رسمي ژبې په عمل کې**

۱ – کومه ژبه عملاً رسمي ژبه ده؟
۲ – عملاً کومې ژبې په کوموکچو(څوسلنی٪) رسمي ژبې دي؟

**لــــــــــنډیــز**

انسان یواځنی ژوی دی چې د ویناپیرزوینه پرې شوېده. که له یوې خوا ژبه لوښی(وسیله) ده دپوهاوي راپوهاوي(افهام اوتفهیم) لپاره، نوله بلې خوا ژبه ترون دی او غوټه ده د پیژاند(هویت) لپاره. پښتو په ټول افغانستان کې هویت سازه او هویت ساتونکې او په دې ډول د اصالت د احساس ژبه ده. د پښتو رسمي کیدا هغه مهال زور اخلي چې دربار پرې وچلیږي، یانې په حکومتي میچن کې وویل شي، ولیکل شي او ولوستل شي، او په دې ډول له پاس نه کښته عملیه رښتونې شي. لومړی باید پښتو په حکومتي قلمرونو کې لــږ تر لــږه د پنځوس کلونو لپاره غـښتلي شي، او بیا دې ګڼ ژبتیا ته پاملرنه وشــي.
دیوې محرومې شوې اوغـفلت زپلې ژبې په ژوندي کولواو پرمختیاکې څلورپریکړې روغ رول لوبولی شي:
- یوداچې په ژب سیاست کې یې مناسب حق په برخه شي
- دوهم داچې ژب سیاست پلی شي
- دریم داچې دهغې لپاره ټولنیزه اړتیاخلـقه شي
- څلورم داچې ملي ترون اوغبرګون ته لاراواره شي. یانې په ټولو ټولنیزوقلمرونو کې(اجراییه، قضاییه، قانونیه، معارف، تجارت ....... اومطبوعاتوکې) په دې بسنه ونشي چې«یا زماژبه یا ستاژبه»، بلکې پرځای یې دترون او غبرګون دریځ پیاوړی شي: « دواړه زماژبه اوستا ژبه»

**په ژب پلان کې درې ټکی کوټلی رول لوبوي**

۱ – هغه ژبه چې پلان یې جوړیـږي، باید رسمی مقام یې منل شوی وي.
۲ – محرومه شوې اوغفلت وهلې ژبه بایدله ښوونځي نه ترپوهنځي پورې د تدریس ژبه وي ، اوڅوک چې یې برې لیک ونلري اولیکل، لوستل او ویناپرې نشي کولی، باید لوړرتبه دولتي اوعلمي مقامونه ورته ونه سپارل شي. دلته باید دواړه ملي کفایت اومسلکي کفایت دیوبل سره څنګ په څنګ غبرګ روان شي.

---

- Tie

پښتانه باید (دپښتوعمل جرګه) جوړه کړي. د دغې جرګې یوه موخه باید داوي چې **دپښتولغتونو بریښناییزبانک** راوباسی. د دغه کارلپاره دې دسریزوچاروکمیټه جوړه شي اود ټول افغانستان (له امو تر اباسینه) مهم شخصیتونه دې پکې کواند شي.

د ۲۰۰۱ زییز په اکتوبر کې د امریکې په مشرۍ د لویدیزې امپریالیستي نړۍ جنګي سازمان ناټو په افغانستان یرغل وکړ او خپله وحشي تنده یې د ټول( لر او بر) پښتون په وینه ، ژبه او سیاسي کلتور ماته کړه. د امریکې مرکزي استخبارات(سي.آی.أئ) د هر کال په جولای کې «د نړۍ د معلوماتو کتاب» خپروي. د ۱۹۹۱زییز(۱۳۷۰ لمریز) پورې، د مرکزي استخباراتوپه دغه کتاب کې پښتانه د افغانستان د وګړیو پنځوس سلنې(۵۰٪)جوړولولې او د پښتو ژبې برخه هم پکې پنځوس سلنې ښودل شوې وه. خو یوکال وروسته ،د سي آې أئ په ذکر شوي کتاب کې ( ۱۹۹۲م=۱۳۷۱ل) د پښتنو شمیر آته دېرش سلنې(۳۸٪)او د پښتو ژبې برخه یې پنځه دېرش سلنې(۳۵٪)معرفي کړل.له دېنه دوه میاشتې وړاندې(اپریل ۱۹۹۲=ثور ۱۳۷۱)شمالي ټلوالې په کابل کې سړک الطوایفي پیل کړې وه. د ۹۱۱ بخولې سره جوخت، له اکتوبر ۲۰۰۱ راهیسې امریکې د روسیې، ایران او پاکستان د خوښې لپاره ټول پښتون اود پښتو ژبه ژوبل کړل،او د افغانستان په استعماري اساسي قانون کې یې د ډیورنډ لیکې وویستلې. ګوندې زما په دې پلان علاقمندان تبصرې او/یا نیوکې وکړي او زما سره یې شریکې کړي.

د ژب پلان لپاره حتمي ده چې د کلتوري (پښتو ویونکو) پښتنواو د نژادي (بې پښتو شوو) پښتنو کره احصائیې ولرئ. زه یې لرم. خو زه نه شم تصور کولی چې د پښتو ژبې د «فنا او بقا» پیچلې موضوع به په شپږ ګینیتوکې حل شي (۹-۱۲بجو بحث، ۱۲-۲ لمونځ او غرمنی،۲-۵ بجو بحث). خو که ویناوالان له ببولالو او ورته ویناګانو نه ډډه وکړي، غونډه به نوکې اغیزمنه شي. دا د کندهار پوهنتون د میلمه پالو مسئولیت دی چې د غونډې په پرانیستونکې وینا کې د غونډې مقررات اعلان کړي. تاسې کولی شئ چې ګناه په ما واړوئ او زما وړاندیز ورته واوروئ. لطفا ماته د غونډې راپور راولیږئ. کور مو ودان چې غونډه مو رابللې ده. برې مو غواړم. ځیرکیار
پای ۸ جون ۲۰۱۵

---

**- “ It is not a question of either A or B but of both A and B.”**

- Pashto action council
- Pashto terminological databases

# د «لـوي افـغـان» د زړه تـاو


ځمری/اسد

[ 3 August 2015=12 Zmarai/Asad 1394]loyafghanislamicmovement@gmail.com


دوستانو افغـانانو سلام. راځی چی د نړۍ دپرمختللو انسانانو په حیث یوځل په خپلو ګریوانو نو کی وګورو.خود به هرافغان په خاصه دسیاست په ډګرکی روزل سوی او دسیاست سره مینوال هریو په ځانګری توګه اویا دخپلی علاقی اوخوښی سازمانو ،حزبونو،تنظمونو،حرکتونو،ټولنو او هربل نوم تشکلاتو کی پاته سوی یاست .داخبری پرخپل ځای هرڅوک اوخپله علاقه مندی [کوي].راځی په وطن کی د "سولی" دټنګښت،ازادی اوښی حکومتداری دراوستلو په مقصد بیله کومه فرقه په مساوی او برابرو حقوقو،یوځل په یوه جبهه کی سره کښینو. په هغه ناسته کی به هر فرد او د سیاسی نهاد نماینده ودغو اهدافو ته درسیدو لاری او خپلی طرحی  چی لری بیان اوتشریح کړی.بیا به د زیاتو په خوښه پرهغه  یوه کړنلاره په ربښتیا اوصداقت ځو چی زیاتو منلی وی.هیڅ کله به جلا جلا هدف ته ونه رسیږو لکه وخت چی وښول.کله چی په ګډه  دخلګو په همکاری په هیواد کی "سوله" ټینګه، بیا به د ولسونو په مستقمه رایه دخلګو نماینده حکومت منځته راځی .هغه دخلګو حمایه لرونکی حکومت به د اجتماعی عدالت دتطبیق لاره وهی،سم اوناسم به سره جلا کوی حق به حقداروته سپاری،مجریمینو ته به جزا ټاکي او تطبیق کوی.زما په باور بیله یووالی  بله هرلاره ترکستان ته ځی.

**افغانانو!نوی شاه شجاع. نوی دیورند. نوی دسیسی. نوی غلامی.نوی استعمار. نوی اشغال. نوی جاسوس. نوی مفت خور. .جعلی مفکر. نوی حرامیان. نوی ارګ کی ناست چاپلوسان. نوی تقلبی مشران.... زما سترګی نوی وزیر اکبرخان لټوی، نوی داوود خان لټوی، نوی ملاله پسی ګرځی، نوی ملنګ جان لـټوی،... نن مو عدم تشـدد اوسیاست رنګ راوړ اوتـذکره کی مو دیورنـد کرښه رسما ومنله! عدم تشد هند ته ازادی راوستله او افغانستان یی ابـد لپاره غـلام کړو! زه د داسـی افغانستان چی سرحـد یی اټک نه وی تابعیت نه کوم. زه د داسی افغانستان چی ملی امنیت سرحد یی دیورند وی په نه ملی امنیت اداری خوشحاله یم. زه د داسی افغانستان نه چی اردوی زما د پلار او ورورد قاتل سره دوستی کوی له نه اردو په لرلو خوشاله یم.**

**زه د داسی افغانستان نه چی سیاسیون او رسنۍ او د وزیرانوشورا یی د نورو لپاره کارکوی په نـه افغانستان خوشحاله یم! د دی  [هویت]تذکری ویشل دجنګ پیل دی!.... که داسی تذکره وویشل شوه زه له افغانی تابعیته لاس په سرشوم! زه یی ترهغه نه اخلم چی ترڅو په قانون کی یی تعدیل رانشی او هم ددی دیزاین اصلاح نشی! او د دی تذکری ویش دافغانستان دتجزیی اوپښتونستان دجوړیدو په معنی دی او هم داشرف غنی خاین دحاکمیت د پای ته رسیدو په معنی دی!!! لوی افغان خپل ټولو استراتیژیکو ملګرو ته وصیت کوی که زه یی بندی کړم، یا یی ترور کړم، یایی دا تذکره وویشله پوه شی چی دانقلاب پیل له همدی ځای نه دی**

**....زما سترګې  نوی وزیر اکبرخان لټوی. زما سترګی نوی داوود خان لټوی، [پـه] نوی ملاله پسی ګرځی، نوی ملنګ جان لټوی. عدم تشد هند ته ازادی راوستله او افغانستان یی د ابد لپاره غلام کړو! زه د داسی**

**افغانستان نه چی ملی امنیت سرحد یی دیورند وی په نه ملی امنیت اداری خوشحاله یم. زه د داسی افغانستان چی سرحد یی اټک نه وی تابعیت نه کوم. زه د داسی افغانستان نه چی اردویې زما د پلار او رورور د قاتل سره دوستی کوی له نه اردو په لرلو خوشاله یم**